فصلنامه

اردو

دملي دفاع وزارت خپرنيز ارګان

دوهمه کنه ۱۴۴۴ هـ ق کال

د رمضان المبارک، شوال المکرم او ذوالقعده الحرام میاشت

د ۱۴۰۲ هـ ۰ ل کال دحمل ، ثوراوجوزا میاشت

په دې ګنه کې...

د ملي دفاع وزارت لاسته راوړنې

امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد (رح) څوک وو؟

سخنی چند به مجاهدین

د الهی نصرت فلسفه




بسم الله الرحمن الرحيم

فصلنامه اردو

د امتیاز خاوند: د ملي دفاع وزارت

د تاسیس نیټه1299 ل م کال

دوهمه گڼه1444 هـ ق کال

د1402 هـ ل کال د حمل او ثور میاشت

مسؤل مدیر: مفتي محمد "بشار"

تلیفون: 0701074350

pBX لمبر: 2671434

سکرتر مسوّل: عبدالاحد "مدبر"

کتونکی پلاوی:

مولوي سمیع الله (ساویز)

مولوي محمد آقا(مسلم)

مولوی عبدالناصر(فاتح)

مولوی نور احمد

محمد آغا (حیدري)

ډیزاین او کمپوز: عزت الله "محمدي"

تخنیکي همکار: خوشحال همت "بابکرخیل"

ویب سایټ: Mod.gov.af

یوټیوب: MoDAfghanstan1

ټویټر: modafghanstan2

تیراژ: 1000 ټوکه

چاپ چاپي: اسلامي ملي اردو مطبعه

فهرست

سرلیکنه..... 1

د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله د مبارکي پیغام..... 2-5

د ملي دفاع وزارت لاسته راوړنې..... 6-8

د شاهي کوت تاریخي غزا..... 9-10

امیرالمومنین ملاعمر مجاهد(رح) څوک و؟..... 11-13

منسجمه، بې پرې او خپلواکه اردو..... 13-14

گرارش نویسی..... 15-18

د مسلمانانو د بریا او ناکامۍ لاملونه..... 19-21

د ملي دفاع وزارت له سرمفتش لطیف الله حکیمي صاحب سره ځانګړې مرکه..... 22-25

تمدن اسلام..... 26-28

د الهي نصرت فلسفه..... 29-31

اتلان..... 32

د ادب ګلبن..... 33-34

برادر مجاهدم!..... 35-37

جیوپولیتیک..... 38-41

قدرت نظامی(نماد قدرت ملی)..... 42-44

سخنی چند به مجاهدین..... 45-46

سرلیکنه...

د هرې اداري او ارګان د عامه پوهاوي او فکري پیوستون لپاره چاپي نشرات تر ټولو مهمه او مؤثره وسیله ګڼل کیږي، په ځانګړي ډول کومې اداري چې خپل اولس ته ځوابویونکې وي او هغوی یې د لاسته راوړنو له خبرېدو په تمه اوسي نو د هغوی لپاره میاشتنۍ او یا لږ تر لږه مهالنۍ مجله تر ټولو اړینه بلل کیږي.

کله چې له یوې اداري څخه مجله چاپ کیږي نو هلته په کارمندانو کې د څېړنو علمي ذوق پیدا کوي، د اداري اړوند بېلابېلو موضوعاتو په تړاو څېړنې کیږي او هغه اداره ورسره په بېلابېلو برخو کې انکشاف کوي.

مجله هغه مهال ګټوره وي چې د خلکو پام ورته راواوړي او تر څو چې یې لیکنې علمي او د شرائطو تحلیل کوونکې نه وي تر هغو پورې کتونکي نه پیدا کوي، له دې امله اړینه ده چې د لیکنو په ژورتیا کې دقت، احتیاط او د موضوعاتو ارزښت ته پوره پاملرنه وشي.

د ملي دفاع وزارت د ستراتیژیکو اړیکو او عامه چارو ریاست د دویمې ځل لپاره خپله مهالنۍ مجله چاپ ته سپاري او د دې ځانګې مسؤلین زیار باسي چې له هر اړخه د نړیوالو معیارونو پر بنسټ زیاته پاملرنه ورته وشي او پرمختګ وکړي. دا مجله چې له هرو درې میاشتو وروسته چاپېږي د یاد وزارت د لاسته راوړنو او فعالیتونو تر څنګ نورې دیني، علمي، فرهنګي، ادبي او سیاسي خپرونو ته پکې ځای ورکړل شوی، د دې ترڅنګ د وزارت د ځینو مشرانو ځانګړې مرکې او د سیمې او نړیوالو بدلونونو په تړاو د سیاسیونو تحلیل هم خپروي.

د افغانستان په تاریخ کې ډېر اتلان راغلي خو ځینې یې بیا د ملي دفاع وزارت په چوکاټ کې لویې کارنامې لري او ځینو د هیواد او نظام ساتلو لپاره یې نه هېرېدونکې قربانۍ ورکړې دي، د مجلې له لارې به د هغوی ژوندلیک او تاریخ خوندیتابه په پار د اتلان عنوان لاندې یو په بل پسې ځینې اتلان معرفي کوي ترڅو یاد یې ژوندی وي او د ملي اسلامي اردو هر اتل یې له ژوندانه څخه د لارې مشال واخلي.



اداره



د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله د مبارکې پیغام!

بسم الله الرحمن الرحيم

الله أكبر الله أكبر، لا إله إلا الله والله أكبر، الله أكبر ولله الحمد

الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله. صلوات الله و سلامه عليه و على آله و أصحابه أجمعين. اما بعد: فقد قال الله عز وجل: ـ إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ (1) فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (2) إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ (3) الكوثر ژباړه: يقينا مونږ تا ته زښت ډېر خير درکړی دی، نو ته خاص د خپل رب عزوجل دپاره لمونځ کوه او (خاص) د همده دپاره قرباني کوه، (د نعمتونو شکر ګذاری ته ادامه ورکړه) يقينا ستا ياد داشت قطع شوی نه دی، بلکې) ستا دښمن همدی مقطوع الذکر (ياد يې قطع شوی او مقطوع الخير) دی .(عزيز التفاسير جلد: 13 ص: 256).ـــ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿162﴾ الانعام ژباړه: ووايه چې يقينا زما لمونځ او زما قرباني او (بالآخره) زما ژوند او زما مرګ خاص الله جل جلاله لره دی چې د ټولو عالمونو پالونکی دی(عزيز التفاسير، جلد4، ص: 403). ـــ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ [سُوۡرَةُ البَقَرَة : 196] ژباړه: او حج او عمره دواړه صرف د الله جل جلاله د رضاء دپاره تمام کړئ او د الله جل جلاله څخه ووډار شئ او پوه شئ چې بې شکه الله جل جلاله چې دی عذاب يې ډېر سخت دی. (عزيز التفاسير). ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: ضَحَّى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وسَمّى وَكَبّرُ قال: رَأَيْتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا وَيَقُولُ بسم الله والله اكبر، متفق عليه.

ژباړه: حضرت انس رضي الله تعالى عنه راوي دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوو نښکرونو والا پسونو (چې د هغه نښکرونه اوږده وه يا دا چې نښکرونه يې مات نه و) او کمر (برګ يعني د تور او سپين رنګ وو) قرباني وکړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم بسم الله والله اکبر ويلو سره پخپل لاس مبارک سره هغه ذبح کړل، حضرت انس رضى الله عنه فرمايي چې ما وليدل چې رسول الله د هغه په اړخ يا په غاړه باندې پښه مبارک ايښې وه او بسم الله والله اکبر يې ويلې (بخاري او مسلم. په دوه برګو او نښکرورو پسونو سره قرباني وکړه، هغه يې پخپل لاس ذبح کړل، بسم الله يې وويله او تکبير يې ووايه او خپله پښه يې د هغوی په غاړو ايښې وه. ـ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ إِنَّهَا لَتَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلاَفِهَا وَإِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللَّهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الأَرْضِ فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا» رواه الترمذى و ابن ماجه ژباړه: بي بي عايشه رضي الله تعالى عنها فرمايي: چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل:

د ابن ادم د نحر (د قربانی کولو د ورځې) داسې هېڅ عمل نشته چې د الله جل جلاله په نزد د وينې بهولو (قرباني) کولو څخه زيات محبوب وي، او (د قربانی) هغه ذبح شوی حيوان به د قيامت په ورځ د خپلو نښکرونو، وښتانو او نوکونو سره راشي او د قربانی وينه مخکې د دې څخه چې په ځمکه وغورځېږي (يعني د ذبح کولو د ارادې په وخت) په بارګاه الهي کې

قبلیږي نو تاسو د دې په وجه (یعني قرباني کولو سره) خپل نفس خوشحاله کړئ. د افغانستان مجاهد او مؤمن ولس او د نړۍ ټولو مسلمانانو ته،

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

له هر څه د مخه تاسې ټولو ته د نیکمرغه لوی اختر مبارکي وایم. الله تعالی مو قربانی، صدقات، حجونه، د اسلام په لاره کې خدمتونه او ټول حسنه اعمال مقبول وګرځوه آمین یا رب العالمین. هیله مي داده چې د اختر دغه مبارکې ورځې په خوشحالۍ وملانځو. د اختر لمونځ، قرباني، حج او نور ټول عبادات په احسنه طریقه ترسره کړو. د لوی اختر مبارکې ورځې چې له یوې خوا په کې د قربانۍ وجیبه ترسره کیږي او له بلې خوا په حرمینو شریفینو کې د نړۍ د بیلابیلو هیوادونو څخه په میلیونونو مسلمانان په کې د حج مبارکه فریضه ترسره کوي، د عبادت، اخوت او قربانۍ هغه ورځې دې چې اهل اسلام اتحاد او خواخوږۍ ته رابولي او د الله تعالی لپاره د قربانۍ او ایثار احساس ورکوي. دا چې د عبادت او قربانۍ دغه ورځې زمونږ په ځوریدلي ولس په داسې حال کې راځي چې هیواد مو له اسلامي نظام او سرتاسري امن څخه برخمن دی، هیوادوال مو باید د الله تعالی شکر اداء کړي تر څو د لا نورو الهي انعاماتو مستحق وګرځو. لله الحمد د اسلامي امارت په حاکمیت سره اسلامي نظام اعاده شوی دی، مقدس اسلامي شریعت اعلان او تطبیق شوی دی، د دیني شعائرو د لوړتیا او د یني مراکزو د پراختیا او تقویې لپاره مهم اقدامات شوي دي. د تقنین، حکومتداری، قضاء، اقتصاد، فرهنګ او د ژوند نورو ډګرونو کې دیني اصلاحات جریان لري. دا ټول هغه اهداف او ارزښتونه دي چې د ترلاسه کولو لپاره یې زمونږ مؤمن ولس اوږدې مبارزې کړي او لویې قربانۍ یې ورکړې دي. په ملي کچه د افغانستان استقلال او خپلواکي یو ځل بیا تأمین شوې، اسلامي اخوت او ملي وحدت ټینګ شوی، د قوم، ژبې او سمت په عنوان هر ډول تعصبات له منځه وړل شوي، د هیواد ارضي تمامیت حفظ شوی او د ټولو سرحداتو په کلکه دفاع او ساتنه کیږي.

د هیواد ملي شتمنۍ لکه ګمرګي او مالیاتي عوائد، معادن،امارتي ځمکې، ځنګلونه او نورو ملکیتونه چې د ملت مشترک مال دی، د شخصي استفاده کوونکو او زورواکو له لاسه ایستل شوي او د بیت المال د شتمنیو په حیث خوندي شوي. د اسلامي امارت په حاکمیت سره د مېرمنو د اجباري نکاح او په بدو کې یې د ورکولو په شمول له نورو ګڼور رواجي ظلمونو څخه د ژغورلو په خاطر لازم اقدامات ترسره شوي دي، ټول شرعي حقوق یې تأمین شوي دي. د ټولنې د نیمې برخې په حیث د میرمنو اصلاح، حجاب، عفت، له اختلاط څخه مخنیوي او د اسلامي شریعت تر سیوري لاندې د باسعادته ژوند په مسیر د برابرولو په موخه مهم اقدامات شوي دي. د ښځو د بې حجابۍ او ګمراهۍ اړوند د شل کلن اشغال منفي تأثیرات د ختمیدو په حال کې دي. د ښځو د حقوقو په اړه د شپږماده ییز فرمان په صدور سره د یوه آزاد او باعزته انسان په حیث د میرمنو حیثیت اعاده شوی او د نکاح، میراث او نورو حقوقو د تأمین په برخه کې ټول ادارات د میرمنو په مرسته مکلفې شوي دي. د شرعي محاکمو په فعالیت سره سپیڅلی شریعت یو ځل بیا په عملي ډول پلی شوی دی.

هغه دیني احکام، شرعي اوامر، حدود او قصاص چې د عملي اجراء امکانات یې نه و، لله الحمد اوس یې اجراء په خپلو سترګو وینو. دغه راز د امربالمعروف او نهی عن المنکر لویه فریضه عملا ترسره کیږي. په دې برخه کې د اسلامي دعوت له اصولو سره سم د اعتدال، مصلحت او شفقت له اصولو سره سم د ټولنې د اصلاح په مقصد اقدامات ترسره کیږي، چې په

برکت یې په ټولنه کې ورځ تر بلې اصلاح راځي او منکرات د ختمیدو په حال کې دي. په اقتصادي برخه کې ویلای شو، چې ټول هغه اټکلونه چې دلته یې د بشپړ اقتصادي سقوط او سرتاسري بحران وړاندوینه کېدله د الله تعالی په فضل غلط ثابت شوي دي. د اسلامي امارت د حکیمانه اقداماتو، اخلاص او شفافیت په برکت د اقتصادي سقوط مخه نیول شوې.

د هیواد په نړۍ تاریخ کې په لومړي ځل هیواد په اقتصادي لحاظ خودکفا شوی دی او د بیارغونې، زراعت، آبیاري، سرک سازي، معادنو د استخراج او نورو برخو کې مهم ترتیبونه پیل او تر لاس لاندې نیول شوي دي. اسلامي امارت په اقتصادي برخه کې د لا نور پرمختګ او د هیوادوالو د اقتصادي ستونزو د له منځه وړلو په مقصد په ټولو پانګوالو او ملي تجارانو غږ کوي، چې په بیلابیلو برخو کې په سرمایه ګذاري د هیواد د پرمختګ او انکشاف په برخه کې خپل مکلفیتونه اداء کړي. اسلامي امارت د دوی امنیت او د ټولو حقوقو رعایت ته ژمن دی او ټولې امارتي اداري مکلفیت لري، چې د هیواد د ښیرازې او اقتصادي پرمختګ په برخه کې پانګوالو ته لازم سهولتونه برابر کړي.

څرنګه مو چې په هیواد کې څو لسیزې جګړې تیرې شوې او په سلګونو زره یتیمان، کونډې او بې وزلې کسان راپاته دي، اسلامي امارت د دوی د حقوقو تأمین او مرستې ته کلکه ژمنتیا لري. دغه راز په اهل خیر شتمنو هیوادوالو او په ځانګړې توګه په خپلوانو یې غږ کوم چې بې وزله یتیمان هیر نه کړي، د هغوی پالنې، تربیې او مرستې ته پوره توجه وکړي. دا چې د لسیزو جګړو وروسته په ټول هیواد کې سرتاسري امن راغلی او اسلامي نظام حاکم شوی دی، نو ټول هغه کسان چې امن ته ګوابښ پښتوي د هغوی څخه مو دا غوښتنه ده چې نور په خپل هیواد کې د خپلو هیوادوالو سره د سوکالۍ ژوند پیل او د امن په ثبات کې مرسته وکړي، د پردیو د ګټو لپاره دې راغلی امن نه متضرر کوي.

د سوالګرو کسانو له سوال څخه د راګرځولو په برخه کې د پام وړ اقدامات شوي دي او زرګونو سوالګرو ته چې اړمن تثبیت شوي، د اسلامي امارت لخوا مرستې ورکول کیږي. خو د حرفوي او غیر اړمنو سوالګرو د مخنیوي په برخه کې د علماء کرامو، د مساجدو د امامانو د نورو مؤثرو اشخاصو همکاری ته اړتیا ده، چې د سوال د بدۍ بیانولو، د پوهاوي او کار او کسب ته د هڅولو په برخه کې لاس په کار شي.

د اسلامی امارت د رغنده او ګټورو اقداماتو له برکته د مخدره موادو کرکیله د نشت برابر شوی ده، چې شریفو هیوادوالو د اسلامي لارښونو له مخې د نړیوالو له تطمیع او همکارۍ پرته بدیل معیشت ته مخه کړې او د یاد اقدام ګټې ورځ تر بلې مخې ته راځي، همدا راز د هر ډول نشه اي توکو په تورید، تولید او استعمال بندیز لګېدلی دی، چې لله الحمد زیات هیواد وال او په ځانګړې توګه ځوان قشر یې له ضرر څخه نجات موندلی دی. د اسلامي امارت ګڼې اړونده اداري د هغو هیواد والو د علاج په موخه لاس په کار شوې دي، چې د اشغال شلن کلنه دوره کې په مخدره موادو او نورو نشه یي توکو معتاد شوي وو، چې د روغتیا، پوهاوي او عادي ژوند ته د بېرته ګرځېدو چارې یې په منظمه توګه جریان لري. څرنګه چې د شل کلن اشغال په وخت کې د مؤمن ولس ډیر حقوق تلف شوي او د بیت المال شتمنۍ د زورواکو لخوا غصب شوي دي، اسلامي امارت د دې نقصانونو د جبیرې لپاره د غصب شویو ځمکو د بیرته راګرځولو ځانګړی کمیسیون ټاکلی دی، چې تر اوسه یې په سلګونو زره جریبه غصب شوې ځمکې تثبیت او له غصب څخه خلاصې کړې دي.

داچې د ظلم او غصب مخنیوی یوه عمومي وجیبه ده، بناء په ټولو هیوادوالو غږ کوم چې د غصب څخه د مخنیوي کمیسیون سره همکاري وکړي، تر څو د خلکو او بیت المال غصب شوې شتمنۍ له غصب څخه خلاصې او حق خپل حقدار ته ورسیږي. اسلامي امارت د ټولې نړۍ په ځانګړي توګه له اسلامي هیوادونو سره ښې او رغندې سیاسي او اقتصادي اړیکې غواړي او په دې برخه کې یې خپل مکلفیت ادا کړی دی. لکه څرنګه چې مور د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کې لاس وهنه نه کوو، همدا ډول نوروته هم اجازه نه ورکوو چې په هیڅ بهانه او عنوان زمور په کورنیو مسائلو کې مداخله ولري او یا مور ته لارښوني وکړي. داسلامي امارت مسئولینوته مې توصیه دا ده چې د حکومتدارۍ په ټولو برخو کې د مؤمن ولس د خدمت، امنیت او هوساینې لپاره خپل مکلفیتونه په جدیت سره تعقیب کړئ. خپلې دروازې د ولس پر مخ خلاصې کړئ، کارونه یې په احسنه او عاجله طریقه اجراء کړئ، له خلکو سره هیڅکله داسې چلند مه کوئ، چې ولس ځان له مسؤلینو کم او یا پردی وبولي. دا هماغه ولس دی چې د شل کلن جهاد په سلسله کې یې خپل ځان، مال، کور او اولاد له مجاهدینو قرباناوه او هر قسم قربانۍ ته حاضر و. اوس امارتي منسوبین په ابتلاء کې دی چې له دې ولس سره متقابلا څرنګه چلند کوي امنیتي مسؤلینو ته مې هدایت دی چې په ځانګړي ډول د اختر په ورځو کې د خپل مؤمن اولس هوساینې، خدمت او خوندیتوب ته پوره توجه وکړئ. د هیواد والو د خوشحالۍ او ارامۍ لپاره ټول لازم اقدامات ترسره کړئ. د شهیدانو، معلولینو او یتیمانو د کورنیو پوښتنه وکړئ او د خپل توان په اندازه ورسره کمک وکړئ. مؤمنو هیوادوالو! زمور او ستاسو مشترک مسئولیت جوړیږي چې د خپل اسلامي نظام ساتنه، پالنه او خدمت وکړو، دا نظام د زرګونو شهیدانو د وینو په قیمت او د مجاهد ولس په خورا سترو ستړیاوو او قربانیو لاسته راغلی، راځئ چې د ساتنې لپاره یې هم ټول په اتفاق همت وکړو، لکه ورونه د یو او بل ترڅنګ ودریږو، د دښمنانو ټولې دسیسې شنډې کړو، د امنیت، سوکالۍ، آبادۍ او ولسي خدمت قدر وکړو او د لا پیاوړتیا لپاره یې لاس په کار واوسو. راځئ چې د ساتنې لپاره یې هم ټول په اتفاق همت وکړو، لکه ورونه د یو او بل ترڅنګ ودریږو، د دښمنانو ټولې د سیسې شنډې کړو، دامنیت، سوکالۍ، آبادۍ او ولسي خدمت قدر وکړو او د لا پیاوړتیا لپاره یې لاس په کار واوسو. د شکر ځای دی چې له هیواد څخه مو په لسګونو زره حاجیان د حج د سترې فریضې د اداء کولو لپاره بیت الله شریف ته تللي. د امارتي مسؤلینو لخوا یې په پوره اهتمام سره خدمت کیږي او ټول لازم سهولتونه ورته برابر شوي دي. حرمینو شریفینو ته د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه راغلیو حجاجو څخه غوښتنه کوم، د ټول اسلامي امت او په ځانګړي ډول زمور د ځوریدلي ولس او هیواد لپاره دعاء ګانې وکړي، تر څو یې الله تعالی له دنیوي او اخروي سعادت او سرلوړۍ څخه برخمن کړي. د فلسطین په مېرمنو، ماشومانو او عامو بې دفاع مسلمانانو د اسرائیلو ظلمونه په کلکو ټکو غندو او له نورو هیوادونو څخه هم غواړو چې د دې ستر بشري جنایت او وحشي مظالمو د مخنیوي په برابر خپل مکلفیت ادا کړي. د سوډان اسلامی هیواد له خلکو او حکومت څخه مو دا غوښتنه ده چې خپل منځي اختلافات او جنګونه ترک کړي، د یووالي، امنیت او ورورګلوی لپاره په ګډه کار وکړي، بلکې په مجموع کې د اسلامي امت د ټولو ستونزو او ناخوالو حل د دوی په یو والی او اتفاق کې دی چې د دغه ستر مطلب د تر لاسه کولو په هکله هر مسلمان مکلفیت لري، چې باید یې درک او په اخلاص او احساس سره ادا کړي، تر څو د مغرضو کړیو د تفرقه اچونې دسیسې شنډې او مسلمان ولسونه د اتفاق او اسلامي اخوت له نعمت څخه برخمن شي. په پای کې یو ځل بیا ټول مؤمن او شریف ولس ته د لوی اختر مبارکي وایم. الله تعالی دې وکړي چې د تل لپاره خپل اخترونه همداسې د بشپړې خپلواکۍ او اسلامي نظام په سیوري کې ولمانځو.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده



د ملي دفاع وزارت لاسته راوړنې

د نظامي پلانونو جوړول

په افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت یو له مهمو وزارتونو څخه دی چې د هیواد ساتنې، ملي حاکمیت، ارضي تمامیت او د اسلامي ملي ارزښتونو د ساتنې ترڅنګ له سرحدونو څخه دفاع یې له اساسي موخو څخه دی، چې د اسلامي امارت د پالیسۍ مطابق یې په نظامي برخه کې د ملي اسلامي اردو د تنظیم او روزلو لپاره نوي نظامي پلانونه پکار اچولي او په دې برخه کې یې د زیات پرمختګ شاهدان یو د هغې له جملې څخه یې یوه منظمه خپلواکه ملي اسلامي اردو روزلې ده چې په تخنیکي برخه کې یې په لا پرمختګ کار روان دی د ټول هیواد دسرحداتو ساتنه کې یې کوټلي ګامونه ترسره کړي او د خپلې خاورې څخه یې په هرډول شرایطو کې دفاع کړې او دفاع ته چمتو دي.

د ملي دفاع وزارت په ټوله کې د هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا، امن، نظام او د دیني او ملي ارزښتونو څخه د دفاع او ساتنې سپېځلې دنده پر غاړه لري، په همدې پار د یاد وزارت رهبري له لومړنۍ ورځې په ډېر جدیت او دقت هلې ځلې کوي چې د دې سترو اهدافو د ساتنې لپاره منظم، دقیق او هر اړخیزه نظامي پلانونه جوړ او چمتو کړي.

د ملي دفاع وزارت په دې توانېدلی چې په افغانستان کې سرتاسري حاکمیت تامین کړي، د هیواد سپېځلې خاوره د شریرو کړیو له منګولو څخه ازاده کړي او پر ټوله خاوره یواځې او یواځې د اسلامي امارت سپېځلی حاکمیت ټینګ کړي. د هیواد په ځینو سیمو کې ځینو شریرو کړیو د پردیو په لمسون هڅه کوله چې ملي او سرتاسري حاکمیت ته زیان ورسوي خو د ملي دفاع وزارت زړورو ځواکونو په ډېره بېړه د هغوی شوم اهداف شنډ کړي او دا پاکه خاوره یې د هغوی له شر څخه خوندي کړې ده.

دا چې د تاریخ په اوږدو کې څو ځله یرغلګرو دا هیواد یرغل کړی، ملي حاکمیت یې ړنګ کړی، ملي یووالی یې له منځه وړی او په دې غیور او درانه ملت کې یې د ژبني او قومي تعصب تخم شیندلی، کلی یې له کلي سره او ورور یې له ورور سره په جګړه کې ښکېل کړی، د ملي دفاع وزارت په خپل ټول توان او منظم پلان سره توانېدلی چې د تعصب دا بد تخمونه له منځه یوسي او د یو مرکزي حکومت تر چتر لاندې ټول افغانان د ورونو په څېر راټول کړي او په ګډه د دې هیواد د پرمختګ او بیا رغونې لپاره لاس په کار شي.

د سرتېرو استخدام

د ملي دفاع وزارت رهبري د سرتېرو او مجاهدينو په استخدام او ټاکلو کې يو ځانګړی معيار په پام کې نيولی چې د اهليت او مسلکيتوب له مخې کسان په کارونو ګماري، ټولې ټاکنې يې په معياري شکل ترسره کړي دي په هره برخه کې يې کوښښ کړی او د روابطو پر ځای ضوابطو او اهليت ته ترجيح ورکړې ده، ټاکنې يې په مسلکي شکل تر سره کړي دي او پاتې نورو باندې کار جريان لري.

د ملي دفاع وزارت رهبري د خپل جدي او پر له پسې هلو ځلو په پايله کې ډېر په بيړه د هيواد له غرونو او لرې سيمو څخه هغه زړور مجاهدين راټول کړل چې شل کاله يې د اشغالګرو پر ضد سپېځلې مبارزه کړې وه او د ملي دفاع وزارت تر چتر لاندې يې د ملي اسلامي اردو په ليکو کې ځای پر ځای کړل.

دې مجاهدينو د خپلو ديني او ملي ارزښتونو د ساتنې رښتونی سوګند کړی و او بيا يې د قربانۍ په ډګر کې عملاً ثابته کړه چې دوی د هيواد او عقيدې پر سر هيڅکله معامله نه کوي نو دوی تر هر چا ډېر وړ وو چې د ملي اسلامي اردو په ليکو کې ځای پر ځای شي او بيا د دين، هيواد او ملت په ساتنه کې د تېر په څېر ثابت قدم پاتې شي.

د ملي دفاع وزارت مشرتابه په لومړي ځل په دې توانېدلی چې له قومي او سمتي توپير پرته رښتونې او خپلواکه ملي اسلامي اردو جوړه کړي، پخوا هم اردو جوړه شوې او بيا له منځه تللې خو د افغانستان په تاريخ کې دا روښانه ده چې يوې اردو هم د هيواد او نظام دفاع نه ده کړې، بلکې پخوانۍ اردو په سختو حالاتو کې له نظام او هيواد سره جفا کړې ده، د دې تاريخ له څېړنې او تحليل څخه دا راته روښانه شوې چې پخوانۍ اردو به يا تر ځانګړي سمت پورې تړلې وه، يا به پر قومي اختلافاتو وېشلې وه او يا هم د سياسي ګوندونو له اختلافاتو څخه اغېزمن شوي وو.

په شل کلن جمهوريت کې چې د ټاکنو پر سر ناندرۍ جدي شوې نو د دې اندېښنه وه چې اردو دوه ټوټې شي، نيمه به د يو لوري او پاتې به د بل لوري په ملاتړ خپل ملي يووالی له لاسه ورکړي.

د ملي دفاع وزارت مشرتابه په ډېر جديت، اخلاص او صداقت هلې ځلې کوي چې له ټولو قومي، سمتي، ژبنې او سياسي توپيرونو څخه وتلې رښتونې اسلامي او ملي اردو جوړه کړي چې بيا د يو ځانګړي، قوم، حزب او سمت دفاع بلکې د ټول هيواد د ځمکنۍ بشپړتيا، ديني او ملي ارزښتونو او ملي اسلامي حاکميت څخه دفاع وکړي. د ملي اسلامي اردو په ليکو کې له ټولو تعصباتو او توپيرونو څخه پرته د افغانستان د بېلابېلو قومونو، سمتونو او ولايتونو څخه زړور، وفادار، رښتوني او تکړه سرتيري جذب شوي دي، دوی سوګند کړی چې د خپلو شخصي ګټو څخه به تېر وي او د ديني او ملي اقدارو څخه د دفاع لپاره به هر مهال قربانۍ ته چمتو وي.

د ملي اسلامي اردو د تجهيز

د ملي دفاع وزارت خپله اردو په سيميزو قول اردوګانو، قطعاتو او جزوتامونو کې په داخلي امکاناتو په عصري ډول مجهزه کړې ده چې په دې برخه کې نورهم پرمختګ وکړي.



نظامي جوړښتونه

د افغانستان ملي اسلامي اردو امنيتي وضعت ته په کتلو سره خپل نظامي جوړښت برابر کړی دی چې د هر ډول تهديد او ګواښ په وړاندې په جدي ډول اقدام کوي، هيڅاته اجازه نه ورکوي چې زموږ داخلي نظم اخلال کړي.

د نظامي جوړښتونو په برخه کې د پخوا په پرتله ډېر زیات پرمختګ راغلی دی او د یاد وزارت د هوایي او ځمکنیو قواوو ظرفیت او توان د دې جوګه شوی دی چې د خپلې ځمکنۍ بشپړتیا څخه په کلکه ساتنه وکړي.

په دې لړ کې د یاد وزارت د انجینري او تخنیکي چارو مسؤلینو او کارمندانو یو لړ نظامي وسائل او وسائط ترمیم کړي دي چې هغه د تېرو جنګونو او یا هم د امریکا د وتلو پر مهال د هغوی له لوري تخریب شوي وو.

د ملي اسلامي اردو روزنه

ملي دفاع وزارت د ملي اسلامي اردو د روزنې په هکله په پراخه ډول پلانونه جوړ او عملي کړي دي، چې د ملي اسلامي اردو منسوبینو ته د عقیدوي زده کړو ترڅنګ په نظامي او مسلکي برخـــو کې د مـــــسلکي استادانو له لوري روزنه ورکول کیږي او په ټولو سیمیزو قول اردوګانو، قطعاتو او جزوتامونو کې یې ورته د نظامي زده کړو لپاره زمینه برابره کړي ده ېلا ېل ډول کورسونه یې ایجاد کړي دي او د اردو روزنه جریان لري.

د پوځي وړتیا او ظرفیت لوړول

د ملي دفاع وزارت ټولو منسوبینو ته د مسلکي کورســـونو، ســـیـمیناروتو جوړولو او اهلیت ته په کتلو د هغوی د وړتیا ارزونه کړې ده او دوی ته یې په مسلکي برخو کې ارتقاء ورکړې ده.که څه هم د ملي اسلامي اردو سرتیري شل کاله د سپېځلي جهاد په لړ کې له جنګونو سره روږدي شوي وو او د تکتیکي جنګونو پوره وړتیا یې درلوده خو بیا هم د یاد وزارت د مشرتابه د جدي پاملرنې او ژمنتیا له امله د دوی د ظرفیت لا زیات لوړولو ته پوره ډېره پاملرنه وشوه او د پخوا پرتله یې ظرفیت، قوت او استعداد ورځ تر بلې نور هم په زیاتېدو دی.

د نړیوالو سره د تعامل په برخه کې همکاري

د ملي دفاع وزارت د اسلامي امارت د پالیسي مطابق له نړیوالو سره په حسنه روابطو تأکید کړی او پخپل استقلالیت او خپلواکي درلودلو سره هیڅا ته د مداخلې کولو حق نه ورکوي او همدارنګه نه غواړي چې د بهرنیو هیوادونو په داخلي چارو کې مداخله وکړي د اسلامي او ملي ارزښتونو په رنا کې هر ډول نړیوالې همکارۍ ته ژمن دي او په دې برخه کې یې ټولو هیوادونو ته خپل حسن نیت ښودلی دی.

د هوایي ځواک پیاوړتیا



د ملي دفاع وزارت هوایي ځواک ته ځانګړې توجو کړې ده چې هیواد هوایي ځواک د پخوا په پرتله څو چنده مجهز او منظم شوی ده او د پیلوټانو په روزلو کې زیات کار کړی دی د خپلو مسلکی انجینرانو په هلو ځلو سره یې په زیات تعداد الوتکې او هلیکفتر چې له منځه تللې او تخریب شوې وې په داخلي امکاناتو سره دوباره ترمیم او رغولي دي او جدي هڅه کوي چې خپل هوایي ځواک نور هم پیاوړی او مجهز کړي او همدار زار په زرګونه ببلابېل ډول ثقیله او خفیفه وسلې چې د تېرې اداري له لوري تخریب شوې وې دوباره ترمیم شوي دي.



د شاهي کوټ تاریخي غزا





شاهي کوټ د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې موقعیت لري، یوه غرنۍ سیمه ده چې اسلامي امارت د غربي اشغالګرو په وړاندې د جهاد لومړی سنګر هم بلل کیږي.

د اسلامي امارت له ږنګیدو وروسته د لومړي ځل لپاره د عصري او مادرن ټکنالوژۍ په وړاندې هیڅوا هم دا تصور نه کاوه چې د دوی په وړاندې به مقاومت وشي او چا چې د مقاومت خبره کوله هغه به یې لیونی باله ځکه د داسې پرمختللي پوځ په وړاندې مقاومت واقعاً په ټنونو ایمان غوښت. دا په داسې حال کې چې فضاء د دجال د B52 ډوله جنګي لوتکې په شمول بیلابیل ډول اور غورځوونکو الوتکو نیولې وه، ټول اسلامي او غیر اسلامي هیوادونه او نظامونه د دغو اشغالګرو په وړاندې خاموشه وو.

زمونږ په جهاد پال او میلمه پال هیواد کې د غیرتمنو پلارانو بچي ډلې ډلې پخپلو وینو کې لت پت، توتې، توتې لحدونو ته سپارل کېدل. د پېړۍ ستر جهادي سالار الحاج مولوي جلال الدین حقاني رحمه الله د وجود پرهرونه لا ملهم نه وو چې په غازي شاهي کوټ کې د دغه ستر متجاوز یرغلګر په وړاندې د جهاد او مقابلې سنګر یو ځل بیا ګرم شو، شاهي کوټ د تکبیر په چیغو د هیواد وتلي اتلان په جوش راوستل او د سره صلیب په وړاندې یې خپل سپېځلی مقاومت پیل کړ، شاهي کوټ د جهاد او مقابلې په یو ستر او عظیم سنګر بدل شو.

په دغه سیمه کې د افغانستان د یو بل ستر جهادي رهبر شهید مولوي فضل الرحمن چې مشهور په نصرالله منصور (تقبله الله) وو د زړه توټه مولوي سیف الرحمن منصور د شاهي کوټ د غازیانو مشري پر غاړه واخیسته له مجاهدینو څخه یې په شهادت بیعت واخیست او د صلیبي ښکېلاک په وړاندې یې خپل تندریز ګذارونه په پوره جرئت سره پیل کړل.د صلیبي یرغلګر پوځ د خپلو څو لاسپوڅو افغاني غلامانو په ملتیا

د ښامار په نوم د ځمکې او فضا له لارې په شاهیکوټ باندې په 1380 ل.ل کال د کب د میاشتې لسمه نېټه د شپې هجوم وروړ، په داسې حال کې د وخت فرعون ولسمشر جورج ډبلیو بوش خپل لښکر ته د ترموبیریک (واړه اتومي بمونو) غورځولو امر وکړ، چې د غازیانو تاریخي اتلوال مقاومت په وړاندې د B52جنګی طیارو پرمټ له لوړې ارتفاع څخه لسګونه بمونه وغورځول په دغه یرغل کې د امریکا په شمول د ډنمارک، کاناډا، فرانسه، استرلیا، المان او ناروې هیوادونو کمانډویانو برخه اخیستې وه. د جهاد په دغه ستر مرکز د امریکایانو دومره لوی او زورور بمونه واچول، چې په لرې پرتو کلیو کې به د تنکیو ماشومانو له پوزې او غوږونو څخه وینې وبهېدلې، په مسلسل ډول شپه او ورځ 24 ساعته بمبار او چاپه شروع وه. مولوي سیف الرحمن منصور د خپلو سر سپارلو مجاهدینو په شمول د یو کوچني ډلګي په شکل د یو لوی مجهز متجاوز صلیبي لښکر په وړاندې په قوي عزم، سپېځلې ارادې او ایمان د الله اکبر په ملکوتي چیغه د غزا میدان ګرم کړ.

د لویې پکتیا او شاوخوا ولایتونو خلکو د دې سترې تاریخي غزا میدان ته کتل خپل لاسونه یې قادر خدای ﷻ ته لپه کړي وو او د اسلام ددغه کوچني ټولې د بریا دعاوې یې کولې. د صلیبي متجاوز لښکر ښامار څو اونۍ پرلپسې په دې کوچنۍ ډلې بریدونه وکړل خو له بریا څخه ناهیلې شول او د شاهي کوټ پرځمکه یې خپل وژل شوي عسکر نشوای خوندي کولای. په دغه ستره تاریخي او له کارنامو ډکه غزا کې د څو امریکایي جنرالانو په شمول تقریبا تر 400 تنه په شاو خوا کې داخلي او بهرني پوځیان ووژل شول او تر لسو ډېرې جنګي هلیکوپټرې او جیټ الوتکې هم را نسکورې شولې، چې لایې هم ځینې پرزې د غرونو په لوړو څوکو باندې په خپل ځای پرتې دي.

بلاخره! په دې غـزا کې د اسلامي امت یو ستر اتل لوی سپه سالار مولوي سیف الرحمن "منصور" په شمول تر 40 تنه اتلو مجاهدینو هم د شهادت جامونه نوش کړل او د خپل رب لقاء ته وصل شول.

د اسلام په تاریخ کې شهید مولوي سیف الرحمن منصور تقبله الله د اسلامي امت او افغانستان ریښتینی زړور اتل یاد شو.

د بهرنیو ځواکونو په وړاندې دغه سپېځلی مقاومت غزني،میدان وردګو، پکتیکا او ګڼ شمېر نورو ولایتونو ته هم پسې وغځېدی. مجاهدینو ته یې همیشنی مورال ور وبانبه چې د جهاد سنګر یې د تل لپاره تود وساته، زړورو مجاهدینو دوه لسیزې د نړیوال کفري متجاوز ځواک او د هغوی د غلامانو په وړاندې د جهاد میدان ګرم او سپین محمدي توغ یې رپاند وساته همدا د هغو بریاوو تسلسل وو، چې د صلیبي دجال لښکر یې په افغانستان کې په ګوډو کړ، هغه برج نسکور شو چې د غرور سر یې په ټولې نړۍ کې هسک وو او هیڅوک یې په وړاندې نشول دریدلای، په دغه سیمه کې دوه لوی هغه قوتونه چې په ټوله نړۍ یې باج وو له ذلیلې ماتې سره مخ شوي دي.

هغه ټکنالوژي هم ناکامه شوه چې د ایمان په مقابل کې یې د بریا خوبونه لیدل.د بهرنیو ځواکونو ځینو قومندانانو او سیاسي شنونکو یاده تاریخي غزا په ویتنام کې د شوې جګړې ته ورته وبلله. او د ویتنام په څېر یې یو ځل بیا امریکا ته یوه شرمونکې ماته ورکړه.

محمدآغا (حیدري)

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد(رح) څوک و؟

د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله) په ژوندانه باندې د مخه لیکنې شوې دي، وروسته به هم ډېرې لیکنې وشي، خو زیاتره یې عاطفي، اجتماعي، علمي او فردي اړخ څېړي، په سیاسي ژوندانه یې هم که لیکنه شوې وي نو سطحي وي او د معاصر تاریخ په غافله چپتیا کې د هیښوونکې بیداري زېږولو په اړه ژوره او ستراتیژیکه لیکنه نه ده شوې، زه غواړم چې د تاریخ لیکوالانو ته د هغه د ژوندلیک یو بل اړخ وښیم، دا به د څېړندویانو مؤرخینو لپاره تر ټولو جالبه او د افغانستان د معاصر تاریخ تر ټولو اړین او زرین تاریخ وي.

دا لیکنه به یوائې د دې موضوع وضاحت وي او کېدلی شي چې څېړونکي لسګونه کتابونه پرې ولیکي، د نظام تر چټر لاندې او یا خصوصي سکتور کې د هغه په نامه علمي او فرهنګي ټولنې جوړې شي چې د ده افکار په رښتوني او حقیقي ډول مدون کړي او بیا یې راتلونکو نسلونو ته نقل کړي تر څو أفکار یې ژوندي پاتې شي او دا د بریا مسیر تعقیب کړي. دا لیکنه بېلابېل جوانب لري او که څوک له یوې زاویې ورته وګوري درک کولی یې نه شي، همداراز یوائې د افغانستان په محدوده کې ورته کتل ډېر جوانب له پامه غورځوي، که څوک په دې موضوع لیکنه کوي نو باید په تدوین کې یې د نړۍ په کچه د اسلامي تمدن وروسته پاتې او لوېدلی حالت په پام کې ونیسي، د عثماني خلافت له منځه تللو وروسته یو په بل پسې د لسګونو اسلامي حرکتونو د پرځېدو او ناکامېدو عوامل به لټوي، د هغوی د مسیر مثبت او منفي اړخونه، د بریا او ناکامۍ باعث کېږي، منشور، تګلار او اهداف به یې په یاد وي او بیا به د افغانستان داخلي اوضاع ته په کتلو دا څېړي چې ستر زعیم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رح څه ډول اسلامي تمدن احیاء کړ، د اسلامي نظام نوی او غوره ماډل یې وړاندې کړ، امت ته یې له مظلومیت او محرومیت څخه د وتلو لار وښوده، علماء یې له تنګې زاویې څخه د سیاست او حکومت پراخ میدان ته را ووېستل، د شر او فساد ریښې یې وکیندلې، اسلامي امارت یې په پوره قوت حاکم کړ او پر ټوله نړۍ یې د اسلامي نظام اغېزې وشیندلې، دا هغه ژور بدلون دی چې ډېرو اوږدو او ستراتیژیکو څېړنو ته اړتیا لري تر څو دا هڅې له هغو هڅو سره وتړل شي کومې چې د عثماني خلافت له ړنګېدو وروسته په ټولو اسلامي هیوادونو کې پیل شوې، د ټولو خواری د همدې زعیم په غوره تګلار مؤثرې پایلې ته ورسېدلې او د ټولو سپېڅلي اهداف د امیرالمؤمنین رح د سالم قیادت په بریالي حرکت کې ترلاسه شوې.

د اسلامي نړۍ په (5،200،00) کیلو متره مساحت باندې د عثماني خلافت په نامه د یو امیر ترقیادت لاندې مسلمانانو د خوښۍ او ارام ژوند کولو، د اسلام شمله لوړه وه، مسلمانانو د برم او پرتم په لوړ منار شمله تړله، او ټولو د حق په لاره کې مثالونه پاتې دي. د اسلام دښمنانو د مسلمانانو د دې برم اوپرتم نړولو لپاره په بېلابېلو سیمو کې د دې سپېڅلي نظام د

ضعیف کولو لپاره ډول ډول دسیسې جوړې کړي، او د له منځه وړلو په چارو یې لاس پورې او بالآخره د مسلمانانو د خپل منځي اختلافاتو او د قیادت د کمزورۍ او بې کفایتۍ له امله دنګ منار ونړېد، په نړۍ کې د دیموکراسۍ بازار ګرم شو او له مذهب څخه د ازادي اخستلو حرکت پیاوړی شو، سیاسي جغرافیه تغیره شوه او مسلمانان په بیلابیلو سیمو او هیوادونو کې خپاره او مېشت شول، دیموکراسۍ رشد وکړ او د څو په ښکاره پاکو شعارونو چې په پټه کې د زهرو ډک و ځینې مسلمانان هم په خپلو اقدارو بې باوره کړل او د اسلام په اړه یې ورته په ذهن کې شکونه پیدا کړل او د ازادۍ په نامه یې د الله له احکامو څخه سرغړونې ته تشویق کړل. سیاست او حکومتولي د علماوو لپاره پیغور شو، نظام او حکومت له دین څخه جلا معرفي شو، د اسلام د شمولیت او جامعیت فکره مجروحه شوه، دین یوازې تر مدرسې، مسجد او خانقاه پورې محدود شو او عقلانیت د حکومتولۍ په برخه کې د دې جوهري ځای خپل کړ. په داسې ناورین کې ځینو مخلصو مسلمانانو د اسلام د برم او پرتم بیرغ په اوږه کړ او هدف ته د وړلو او رسولو لپاره یې په اغزنو لارو او سکروټو له پاسه یې خپل ګړندي قدمونه واخستل خو یا یې توښه کمه وه او یا یې پلان او تګلاره پوره روښانه نه وه چې له امله یې یو په بل پسې ناکام سول، د دوی ناکامۍ سره په اسلامي نړۍ کې اسلام دښمنو دوه ډېرې بدې فکرې خپرې کړې او زمینه هم ورته برابره و.

لومړی دا چې اسلام ریښتیا هم پخوانی مذهب او د انسان فردي عمل دی چې د وخت له اړتیاوو سره سم یې د انسانانو غوښتنې نه دي پوره کړی، نو اسلام او سیاست سره جلا دي چې حکومت به انسانان په خپل عقل جوړوي او چلوي.

دویمه دا چې نامسلمانې نړۍ د علم او تیکنالوجي په برخه کې له اسلامي نړۍ څخه پرمختګ کړی دی او د دې پرمختګ لوی لامل له مذهب او کلیسا څخه ازادي اخستل دي او اسلامي نړۍ کې بنسټ پالي(بنیاد پرستي) او مذهب پالنه ده چې دوی یې له پرمختګ څخه محروم کړي دي، ځینې کمزوري مسلمانان او شهوت پاله ځوانان یې بې دیني ته وهڅول او بالآخره مسلمانان پر دین او خپلو ارزښتونو بې باوره شول. الله (ج) په قران کې وعده کړې وه چې هوالذی ارسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله وکفی بالله شهیدا. الله (ج) خپله ژمنه کړې او د دی ژمنې ګواهي یې هم خپله کړې چې اسلام به پر ټولو ادیانو باندې غالب کوي او برم او پرتم به یې ساتي او د همدې کار لپاره داسې خلک پیدا کوي چې هغوی به د اسبابو کارولو تر څنګ د اسبابو پر ځای د الله (ج) په نصرت باور کوي.

د همدې عظیم کار لپاره د کندهار په سنګسار کې د ملا محمد عمر په نامه د الله (ج) یو فقیر بنده خپل د زده کړې کتاب(هدایه) کت کړه او علمایې د خپل عظیم مسولیت تر سره کولو ته متوجه کړل.

افغانستان له شر او فساد څخه د سلګۍ په وروستي حالت کې و او هره ورځ عذاب پرې تېرېدی، دا مظلوم ملت په تمه و چې الله (ج) به یې د خپل کوم نازولي بنده په مټ له دې مظلومیت باسې او د نړۍ مسلمانان په تمه و چې د اسلامي نظام الهام له چا څخه واخلي. مظلوم ملت په تمه و چې الله (ج) به یې د خپل کوم نازولي بنده په مټ له دې مظلومیت باسی او د نړۍ مسلمانان په تمه و

چې د اسلامي نظام الهام له پا څخه واخلي. امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد(رح) کندهار څخه پیل او بالآخره د دې هیواد تر پلازمینې کابل پورې د شر او فساد ټغر ټول کړ او دلته یې د سوچه اسلامي نظام لپاره داسې لښکر ورزلو چې هغوی ټولو توکل محض کړی و، ځکه چې امیرالمومنین (رح) ورته ویلي و: دا ایت ماته هم معلوم دی چې لایکلف الله نفساً الا وسعها. خو دا دین یوې داسې ډلې ته هم اړتیا لري چې توکل محض وکړي. د هغه سپیڅلي مسلمان په نیت کې دومره قوت و چې زرګونو ځوانانو به یې په نامه باندې ځانونه ځارول، د هغه فرمانونه یې په کاغذ لیکل په ښیښه کې بندول او بیا یې د ډبر درناوي له امله ښکلول.

امیرالمومنین (رح) برسېره پر دې چې د سکولریزم ملا ماته کړه علماء یې له ځانګړې محدودې څخه د سیاست ډګر ته راوستل، اسلام یې د نظام غوره حل لارې په توګه نړۍ ته وښود، د مسلمانانو برم او پرتم یې وژغورى، د اسلام کلمه یې لوړه کړه د نړۍ مسلمانانو ته یې د اسلامي نظام معاصره تګلاره وښودله او هغوی ته یې له مظلومیت څخه د وتلو لار الهام کړه، روح یې ښاد او جنت یې ځای شه.

مفتي محمد (بشار)

منسجمه، بې پرې او خپلواکه اردو



د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې ډېر ځوځله منظه اردو جوړه شوې خو د هیواد په ساتنه کې پاتې راغلې او د یرغلګرو ترڅنګ درېدلې دي، پخواني ځواکونه د پردیو له لوري تمویل کېدل او نان او فرمان دواړه یې له پردو څخه اخستل، هغوی به د پردیو له ارزښتونو څخه ځانونه ځارول او د خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو ساتنه یې نه کوله.

همدارازپخواني ځواکونه خپلواک او منسجم نه وو، بلکې ځینې به یې په احزابو او ځینې به یې د هیواد په بېلابېلو سمتونو او قومونو وېشلي وو، کله چې به د واک د ګدۍ پر سر شخړه راتله او یا به د ټاکنو په پایلو توافق نه رامنځ ته کېدی نو د سیاسي کړکېچ د شدت په نتیجه کې به د اردو د وېشل کېدو او له منځه تللو اندېښنه زیاتېدله. د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت رهبري په دې توانېدلي چې په لومړي یوه منسجمه، بې پرې او خپلواکه اردو جوړه کړي، داسې اسلامي ملي اردو چې نه په ځانګړې قوم، نه په خاص سمت او نه هم په یوې ډلې پورې تړاو ولري، بلکې ټول به د افغانستان د بېلابېلو سمتونو او قومونو له مخلصو او ژمنو بچیانو څخه تشکیل

وي او په بې پرې توګه به د افغانستان د دیني او ملي ارزښتونو څخه دفاع کوي.

د ملي دفاع وزارت په تشکیل کې د افغانستان د بېلابېلو اقوامو څخه مجاهدین راټول شوي دي، څوک یې په پښتو، څوک یې په دري، ځینې په اوزبکي او نور بیا په نورو ژبو خبرې کوي، په یو دفتر کې د بېلابېلو ژبو خلک راټول شوي وي او د ورونو په څېر ژوند کوي، دلته امتیازات مطرح نه دي، د اسلامي ملي اردو ځواکونه د منصب او مادیاتو لپاره دنده نه ترسره کوي، بلکې ټول د الله د رضا په نیت د دین، هیواد او ملت خدمت کوي.

د ملي دفاع وزارت په ټولو اداراتو کې د قوم او ژبې پر سر خبرې نه کیږي، هیڅوک د ځانګړې ډلې نوم نه اخلي او نه به هم د افغانستان اسلامي امارت ډلو ټپلو ته په هېواد کې د تفرق اچولو اجازه ورکړي، بلکې ټول افغانان په لومړي ځل د ملت جوړونې او د ملي یووالي لپاره په ګډه کار کوي، کومو خلکو چې پخوا د قومونو په سر لوبې وکړې، د هغوی پر سر یې امتیازات واخستل او په حقوقو یې خپتې اچولې وې نن ټول په خپل وطن کې منفور دي، اوس د هغوی په خبرو او لاپو باور نه کیږي، بلکې ټول افغانان په یو مرکزي نظام کې د یو خپلواک هیواد د



ساتنې او پرمختګ لپاره شپه او ورځ هلې ځلې کوي.

د اسلامي ملي اردو ځواکونو ته دیني پوهه هم په ښونیزو مرکزونو کې د مسلکتوب ترڅنګ ورکول کیږي او دا چې عصبیت او تعصب په اسلام کې ځای نه لري له همدې امله زمور د اسلامي ملي اردو ځواکونه د ملي یووالي او هیوادنۍ مینې په اساس منسجم کیږي او د یو بدن د بېلابېلو غړو په څېر خپلو دندو ته ادامه ورکوي.

زمور هیواد همداسې خپلواکې، منسجمې او اسلامي ملي اردو ته اړتیا درلودله چې د لوی الله جل جلاله په فضل باندې په لومړي ځل افغانان د داسې یوې خپلواکې ملي اردو څښتن کیږي، پخوا به د اردو نوم ملي و خو عملاً به د ملي ارزښتونو خلاف جنګېدل، پخوانۍ اردو خپل افغانان وروڼه وژل سره له دې چې دنده یې د هیواد په سرحداتو کې د دیني او ملي ارزښتونو په ساتنه کې قرباني ورکول و، خو دا چې د نورو له خوا تمویل کېدل نو هیڅکله یې د ملي ارزښتونو څخه ساتنه نه شوه کولی.

اوسنۍ اسلامي ملي اردو په حقیقي ډول ملي ده او د هیواد له دیني او ملي ارزښتونو څخه به په کلکه دفاع کوي، په دې لړ کې به نه د لوړې پروا لري، نه د تندې او په هر ډول حالاتو کې به د خپل مشرتابه په اطاعت کې د هیواد دفاع ته چمتو وي.

له لوی الله جل جلاله څخه دعاء کوو چې زمور اسلامي ملي اردو ته په هره برخه کې توان، استعداد او ظرفیت زیات کړي.

مفتي محمد بشار

گزارش نویسی

گزارش نویسی چیست؟

گزارش اسم مصدر است از گزار (بن مضارع یا فعل امر) + ش (پسوند اسم مصدر) و مصدر آن گزاردن است.

شرح وتفسیر کردن، خبر دادن، اطلاع دادن، تبلیغ، جستجو کردن، رسانیدن، اظهار کردن از معانی گزارش است.

گزارش بیان یک نوع خبر، واقعه نگاری، بیان توصیفی، تشریحی و تصویری یک موضوع است، گزارش تلفیق خبر وتحقیق است، بازسازی هنرمندانه صحنه ها، موضوعات و واقعیت های مهم اجتماعی است، گزارش تکنیکی از شگردهای داستانی است و گزارش تکنیک انتقال پیام به خواننده و مخاطب در زمینه های مختلف است که دارای عناصری از خبر، تحلیل، توصیف، تفسیر، تحقیق، مصاحبه می باشد.

تاریخچه

تاریخچه گزارش به نیمه اول سده 91 میلادی بر میگردد و آن زمانی بود که برای اولین بار، گزارش در محاکم، مجالس و اجتماعات استفاده شد. گزارش ریشه در زبان فرانسه دارد و به معنی به گذشته بازگشتن، بازگشت به چیزی و رساندن است.

در تاریخ روزنامه گاری جهان نیز سه روزنامه نگار در پیشرفت این ژانر نقش بیشتری داشته اند؛

جان ریدر امریکایی، ایگون ایرون کیشی از پراگ و ارنست همینگوی، به گفته بعضی از منابع تاریخی،"دیفو"، اولین فردی بوده که در روزنامه نگاری بریتانیایی، گزارش نوشته است و بعد از او "نورتگلیف" درسال 1896 از گزارش به عنوان ستون اصلی روزنامه ملی "دیلی میل" استفاده کرده است.

بعدها به علت گسترش سوادآموزی و آغاز جنبش افکار آزادی، گفت و گو و بیان، گزارش نویسی به یکی از هنرهای اصلی روزنامه نگاری جهان تبدیل شد.

سپس، پیشرفت فکری اجتماع و آگاهی از مسایل و مشکلات سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی، مردم را به تغییر وضع اجتماع تشویق کرد و از سوی دیگر، این موضوع سبب شد تا در حوزه مطبوعاتی نیز به گزارش اهمیت بیشتری داده شود.

(گزارش REPORTAGE)

این واژه در لغت به معنای گزارش و در اصطلاح عبارت از بیان توصیفی، تشریحی وتصویری یک رویداد و واقعه یا موضوع اجتماعی است.

در حدود سال 1850 میلادی روزنامه نگاری از نظر کیفیت وکمیت وارد دوران تازه ای از تاریخ شد.

اگر مفهوم گزارش را روایت تجربه ها، خاطره ها، دیده ها و شنیده ها بدانیم، تاریخ ادبیات ما از نمونه های ناب گزارش سرشار است.

تاریخ نگاری(گزارش ازرویداد) سرگذشت نویسی(گزارش از شخص) و سفرنامه نویسی، آغاز گزارش نویسی سرآغاز تجدد و نوگرايي در افغانستان به دوران حکومت امیر شیرعلي خان در سال 1863 میلادي باز مي گردد و گفته مي شود که تا قبل از این تاریخ ، تجدد طلبي باید و شایدي در کشور وجود نداشته است.

درست در همین دوره است که نخستین نشریه‌ي رسمي تاریخ افغانستان به مرحله‌ي انتشار رسید و به عنوان نقطه‌ي آغاز تاریخ روزنامه نگاري در افغانستان مورد توجه مورخان قرار گرفت.

این جریده که در سال 1875 میلادي برابر با سال 1253 شمسي خورشیدي تحت عنوان" شمس النهار" منتشر شد مسئولیت آن را میرزا عبدالعلي خان (رئیس نخستین مطبعه‌ي لیتوگرافي در افغانستان) بر عهده داشت.

شمس النهار در شانزده صفحه و ظاهرا در ماه دو یا سه مرتبه منتشر مي گرديد و مقالات آن عمدتا توسط يكي از رجال فرهنگي آن روزگار افغانستان به نام عبدالقادر پيشاوري نگاشته مي شده كه اين فرد منشي امير شيرعلي خان نيز بوده است. علاوه بر عبدالقادر پيشاوري چند مترجم نيز در هيات تحريريه‌ي اين نشريه حضور داشتند كه به ترجمه‌ي اخبار و متون خارجي مي پرداختند و ظاهرا اين مترجمان، اولين پيشگامان تاريخ ترجمه در افغانستان محسوب مي شوند.

مورخان، دوران حكومت حبيب الله خان را دوران شكل گيري مطبوعات نوين در افغانستان نام گذاري كرده اند و دليل اصلي اين نامگذاري را مي توان در انتشار نخستين نشريه‌ي مدرن و نوين تاريخ افغانستان يعني " سراج الاخبار" عنوان كرد.

گزارش نویسی در هنر روزنامه نگاری اهمیت فراوانی دارد ، به طوری که بسیاری از روزنامه ها صفحات خاصی را به آن اختصاص می دهند.

خبر، نقل رویداد است اما گزارش، تجزیه و تحلیل رویداد و بررسی ارتباط آن با حوادث دیگر است چنانچه رویداد یا حادثه ای خاص از اهمیت زیادی نزد مخاطبان برخوردار باشد، روزنامه نگار به خبر اکتفا نمی کند و با بررسی و تحلیل جنبه های مختلف آن، به تنظیم گزارش کاملی درباره رویداد موردنظر می پردازد و با روشن کردن ابعاد موضوع می پردازد.

گزارش در روزنامه نگاری عبارت است از پیگیری روزنامه نگارانه در حوزه ای مشخص برای آشنا ساختن خواننده با همه جنبه های موضوع و تحریک و تشویق وی برای پیگیری. یا یکی از هنرهای روزنامه نگاری است برای تشریح و تبیین ابعاد مختلف یک مسأله و تجزیه و تحلیل آن به شکل موضوعی.

هم چنین در تعریفی دیگر می توان گفت: گزارش عبارت است از اطلاعات و دیدگاه هایی که یک روزنامه نگار از راه تجزیه و تحلیل، درباره یک مسأله مشخص به رشته تحریر درمی آورد .گزارشگر، برای آنکه بتواند یک معضل یا تحول اجتماعی را برای خوانندگان روزنامه خود کالبدشکافی کند، یا زوایای تاریک خبر را روشن سازد، به سراغ مردم، مسؤولان و کارشناسان می رود؛ به آرشیو اسناد مراجعه می کند و با پرداخت هنرمندانه همه آن چیزی که به دست آورده است، درقالب یک گزارش افکار عمومی را به قضاوت می طلبد؛ مسئولان را هشیارمی سازد؛ حساسیت جامعه را نسبت به یک معضل بالا می برد و با انگشت گذاشتن بر روی هنجارها، به تقویت آنها در جامعه می پردازد و به زدودن ناهنجاری های اجتماعی کمک می کند.

به همین دلیل نیز مطبوعات، برای گزارش اهمیت زیادی قایل هستند وگزارشگران از زبده ترین افراد تحریریه مطبوعاتی به حساب می آیند.

طبقه بندی انواع گزارش

1- بر اساس موضوع:

گزارش سیاسی، جنگ ها و کشمکش ها، اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی، اداری، روشنگرانه و خردورزانه، علمی، هنری و گزارش ورزشی.

2- بر اساس مکان جغرافیایی:

گزارش داخلی (کشوری) منطقه ای و بین المللی.

3- براساس هدف:

گزارش پیش بینی کننده، تحقیقی، علمی، پیگیرانه، گزارش سرگرمی .

تفاوت گزارش با برخی دیگر از شیوه های نوشتن

خبر: دراین ژانر، روزنامه نگار دیدگاه خود را بیان نمی کند، تنها به نقل ساده مسأله می پردازد و به 8 پرسش که؟ کی؟ کجا؟ چه؟ و چرا؟ پاسخ می دهد در صورتی که در گزارش، روزنامه نگار در همان حال که به تشریح مسأله می پردازد، می تواند دیدگاه خود را نیز بیان کند. هم چنین گزارش اصولا در پاسخ به دو پرسش چرا؟ و چگونه؟ نوشته می شود.

داستان: هر چند در داستان کوتاه و بلند ممکن است گاهی واقعیتی از زندگی بیان شود ولی اساسا به خیال متکی است، اما گزارش به واقعیت متکی است.

سرمقاله: سرمقاله، دیدگاه صاحبان نشریه است ولی گزارش، دیدگاه و سیاست روزنامه را بیان نمی کند هرچند علیه آن نیز نیست.

مقاله ادبی: گزارش اغلب براساس موضوعی مشخص نوشته می شود و با مردم ارتباط دارد، درحالی که مقاله ادبی باخود نویسنده پیوند دارد.

مراحل مختلف تهیه گزارش

1- یافتن سوژه
2- پرورش سوژه (موضوع)
3- گردآوری اطلاعات
4- تحقیق در مورد صحت اطلاعات
5- تنظیم گزارش (ایجاد ساختار)
6- زبان گزارش
7- عنوان گزارش
8- طلایه (لید)
9- استفاده از عکس، طرح و نمودار در گزارش

راههای یافتن سوژه :

– تهیه دفتر سوژه – مطالب روزنامه ها – رسانه های صوتی و تصویری – استفاده از تکنالوژی و رسانه های اجتماعی نشریات دیگر و کتاب – حضور د رمجامع، مراسم، سمینارها، اجتماع، مکان های عمومی – تقویت هنر خوب دیدن، داشتن شم و نبوغ خبر، تقویت حواس پنجگانه گزارش با استفاده از رویدادهایی است که تازه اتفاق افتاده و همچنین با مردم مرتبط و نزد آنان مهم هستند.

هرچند رویدادهایی که قبلا اتفاق افتاده و تازه با زاویه ای دیگر به آن پرداخته شود می توان به عنوان سوژه مطرح شود. بحث سوژه آنقدر مهم است که در بعضی از روزنامه ها، دسته ای از روزنامه نگاران توانمند فقط مشغول سوژه یابی هستند. لذا سوژه خوب می تواند 81 درصد از اصل کار گزارش محسوب شود.

پرورش سوژه:

وقتی سوژه مشخص شد باید به مشغولیت ذهنی گزارشگر مبدل شود، گزارشگر ممکن است فرصت زیادی برای تهیه گزارش نداشته باشد ولازم باشد به محض دریافت سوژه کار خود را آغاز کند. باید به این فکر کرد که چگونه می توان از سوژه تعیین شده، یک گزارش درجه یک تولید کرد؟ گزارش نویس باید بتواند مواردی را که می خواهد برای مخاطب برجسته سازد از قبل مشخص نماید. به این شیوه، براساس اهداف گزارش است که روزنامه نگار می تواند نقشه گزارش را طرح ریزی نماید،گزارشگری که قبل از ورود به سوژه پیرامون آن فکر نمی کند مانند جنگجویی است که بدون نقشه در تاریکی به سمت جبهه دشمن حرکت می کند.

راه های گردآوری اطلاعات

مشاهده میدانی – مطالعات آرشیفی و تحقیقات کتابخانه ای – اینترنت – مصاحبه – گفت و گو با مسئولین – گفت و گو با مردم- گفت و گو با کارشناسان – گفت و گو با طرف های اصلی یک ماجرا – گفت و گو با شاهدان عینی.

مشاهده: مشاهده چیزی غیر از مجموعه قابلیّت ها، مهارت ها و کارآمدی های گزارش گر در برخورد با سوژه یا موضوع هر گزارش نیست. شاید مهم ترین تفاوت کار گزارش گر با کارهای تحریریه دیگر نیز در همین موضوع باشد . خبرنگار نمی تواند بدون مشاهده مستقیم سوژه، گزارش قابل قبولی از آن به مخاطب انتقال دهد.

مصاحبه: همه دریافت های لازم برای تدارک یک گزارش مطلوب، از مشاهده تأمین نمی شود. بخشی از این دریافت، از راه نقل قول و جستجوی واقعیت ها از زبان دیگران به دست می آید. گزارش گر معمولا با دو گروه شاهدان عینی و صاحبنظران مصاحبه می کند.

تحقیق/اطلاعات (مطالعه):

برای هر گزارش گر، "آرشیف"، قابل اتّکاترین منبع یافتن نکته ها و پیام های لازم است. اما آرشیف به تنهایی کافی نیست؛ بلکه منابع اطلاعاتی دیگری هستند که در آرشیوف ها آن ها را نمی توان پیدا کرد؛ بلکه آن ها را باید در لابراتوار ها و مراکز تحقیقاتی جست.

کار شناسان متخصص این منابع اطلاعاتی غنی به منابع زنده تعبیر شده اند؛ که در مقابل، منابع غیر زنده شامل کتاب، بروشور، کاتالوگ، مطبوعات و ... قرار دارد.

تحقیق در مورد صحت اطلاعات:

درخصوص اطلاعات بدست آمده نیاز به تحقیق و سرعت عمل در جمع آوری اطلاعات؛ نوشتن گزارش، تهیه آمار و اطلاعات مربوط به مسأله، به عنوان یک سند معتبر برای اقناع مخاطب از دیگر موارد آماده سازی گزارش است. همچنین گزارش نویس باید بتواند مساله را نزد خویش در حدنیاز، تجزیه و تحلیل نماید.

چگونگی تنظیم گزارش

در این مرحله روزنامه نگار به سه نکته زیر توجه کند:

الف- پیش بینی تعداد کلمات؛

ب- بررسی واژه ها و اصطلاحات نامفهوم و مبهم؛

ج- درک کردن مخاطب و نوشتن در سطح فهم همه، عدم مخالفت گزارش با سیاست روزنامه.

بدون اغراق تنظیم گزارش از اهمیت ویژه ای برخوردار است و زحمات حساب شده یک گزارشگر می تواند به راحتی قربانی یک تنظیم ناشیانه بشود.

تنظیم گزارش نمی تواند حتما "و الزام" از سبک های تعریف شده خبری پیروی کند بلکه با توجه به موضوع و توانایی های نویسنده گزارش می تواند با این سبک ها همخوانی داشته و باید دارای ساختاری قابل قبول باشد و به راحتی پیام خود را دراختیار مخاطب بگذارد، در ذیل به سه سبک متداول در تهیه گزارش اشاره شده است.

سبک هرم وارونه:

در این سبک مهمترین بخش های مطلب در همان ابتدا دراختیار مخاطب قرار می گیرد و سپس مخاطب به ترتیب درجه اهمیت به مطالب دیگر می پردازد. استفاده از آن بیشتر د رگزارش های خبری است.

سبک ترتیبی (تاریخی):

در این سبک موضوع به ترتیبی که اتفاق افتاده است نوشته می شود. استفاده از آن بیشتر در گزارش از محل، سفر و شخص می باشد.

سبک ترتیبی همراه با طلایه (لید):

این سبک تلفیقی از دو سبک یادشده در بالا است. در ابتدای گزارش به مهمترین نکته اشاره می شود سپس موضوع به ترتیبی که واقع شده دراختیار مخاطب قرار می گیرد.

زبان گزارش

زبان گزارش باید مطابق با موضوع گزارش باشد مثلا" اگر گزارش از سفر یا گزارش خبری داریم باید مطالب آن ساده و روان باشد و زبان انسانی و گفتمان روزمره انسانها باشد یا اگر گزارش اداری تهیه کرده ایم ادبیات آن کمی متفاوت بوده و اصطلاحات اداری، یا اشاره به تبصره و قوانین در آن به چشم می خورد، یا در مورد گزارش علمی زبان گزارش جدی تر شده و اصطلاحات علمی و تخصصی در آن به کار گرفته می شود البته با همراهی زبان مردمی و ساده نگاری بطوری که برای مخاطب عام هم قابل فهم باشد.

ادامه دارد...

عبدالاحد "مدبر"

د مسلمانانو د بریا او ناکامۍ لاملونه

1 -د مسلمانانو د بریا لاملونه

2 -د مسلمانانو د ناکامۍ لاملونه

الحمد لله، الحمد لله، جلَ، وعلا، والصلاة والسلام على محمد المصطفى، وعلى آله النجباء وأصحابه الأتقياء، ومن بهديهم اقتدى، وبآثارهم اقتفى، من المفسرين والمحدثين والفقهاء إلى يوم الجزاء، أما بعد؛ فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم: {وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ} [الأنفال: 46]. ژباړه: او د الله او د هغه د رسول خبره منئ او خپلو کې شخړې مه کوئ، کنه بې زړه به شئ او باد (برم) به مو لاړ شي، او صبرکوئ یقینا الله صابرانو سره مل دی. عَنْ ثَوْبَانَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: « يُوشِكُ الأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا ». فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ قَالَ « بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ وَلَيَنْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهَنَ ». فَقَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْوَهَنُ قَالَ « حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ ». "[1]. أو کما قال صلى الله عليه وسلم. ژباړه: ثوبان رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: نژدې ده چې ټول کفري امتونه (هېوادونه) ستاسي پرخلاف داسي راټول شي لکه کاسي ته چې خوړونکي راټولیږي، یو تن وویل: مور به کم یو؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: نه، تاسي به هغه مهال زیات یاست خو د سیند د زګ په څېر به یاست، الله به ستاسي د دښمن له زړونو څخه ستاسي وېره وباسي او ستاسي په زړونو کې په وهن واچوي. یو تن وپوښتل ای د الله رسوله! وهن څه دی؟ ویې فرمایل: د دنیا مینه او له مرګ څخه تېښته.

په حدیث کې د دې امت حالت بیان شوی دی او دغه اوسنی عصر یې راته په ګوته کړی، او د دې حالت عمده لامل یې هم رابنسودلی دی، چې مسلمانان ولې دې حالت ته راورسېدل؟ لاملونه یې څه دي؟

الله رب العزت په آیت کې د بریالیتوب دري لاملونه او د ناکامۍ یو دلیل بیان دی، چې باید ځان پرې پوه کړو، تر خبر شو، چې لومړی به د بریالیتوب لاملونه بیان کړو، او بیا به د ناکامۍ لامل هم بیان کړو.

د مسلمانانو د بریالیتوب لاملونه

الف: وَأَطِيعُوا اللَّهَ؛ د بریالیتوب لومړی لامل دا دی، چې د الله رب العزت پیروي وشي، مور د مسلمانۍ دعوا کوو، ځانونو ته مسلمانان وایو، باید د مسلمان معنا هم زده کړو، چې مسلمان چا ته وایي؟

او د الله رب العزت پیروي په څه کې ده؟

په کومو شیانو د الله رب العزت پیروي راتلالای شي؟ نن سبا دا د ټولنې یو رواج ګرځېدلی چې مسلمانان یوازې د هغه څه پیروي کوي، چې ګټه یې په سترګو ویني، که یو تن پوه شي چې په ناحقه دی، که شریعت ته مخه کړي، او په شریعت پرېکړه وکړي، نو ناکامیږي، په دې صورت کې هیڅکله په شریعت پرېکړه نه کوي، شریعت ته ځان نه حاضروي. یوه بېلګه یې دا ده، کله چې زمور دار الافتاء ته یو تن دعوا راوړي، او په دې پوه شي، چې زه پرې

غالبيږم هغه مقابل لوري ته ووايي: زه او ته مسلمانان يو، بايد په شريعت پربکړه وکړو، او خپله لانجه د شريعت له مخې حل کړو، او که د شريعت حکم د ده په خلاف وي، بيا هغه د شريعت حکم پټوي، مقابل لوري ته يې نه ښيي، په حکومت به پربکړه کوو، قضاء او څارنوالۍ ته به ځو، له دې معلوميږي، چې مور هغه مهال د شريعت پيروي کوو، چې ښکاره ګټه په سترګو وويني.

خو د مسلمان صفت بايد دا وي، چې په هر حالت کې د الله رب العزت پيروي وکړي، هر وخت ورته تابع وي، هرومرو په شريعت پربکړه کوي، که پربکړه د ده په حق کې وي، او که په خلاف يې وي.()

خو زمور يوه عمومي کمزوري دا ده، چې مور د شريعت په امورو کې له بې پروايي څخه کار اخلو، کوم امرونه چې يې راته کړي دي، او يا له څه څخه چې يې منع کړي يو، په ټولو کې له بې پروايي او غفلت څخه کار اخلو.

يوازې زمور دا حال نه دی، بلکې په هر اسلامي هېواد کې د هر وګړي دا حال دی.

په خپلې ټولنې کې سوچ وکړئ، څومره نافرماني ترسترګو کيږي، په دې اوسنۍ ټولنه کې زنا، غلا، غصب، مسلمان ته دوکه ورکول، بهتان، غيبت، دروغ، مسلمان وژنه، د بل حق خوړل او هر ډول فحشا او ناوړه کارونه شتون لري.

ګڼ شمېر مسلمانان شتون لري، دوه پنځوس اسلامي هېوادونه دي، په هر هېواد کې په ميليونونو مسلمانان ژوند کوي، خو دغه مسلمان چې په هر ځای کې دی، د ذلت او سپکاوي ژوند کوي، داسې هېواد نشته چې هلته د مسلمانانو پت خوندي وي.

که قرآن او حديثو ته وکتل شي، ګڼ شمېر احکامات مور ته د يووالي، وروروليِ درس راکوي، تردې چې ټول مسلمانان يې ورونه بللي دي.()

همداراز رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو يووالي ته ډېره پاملرنه کړې ده، په ګڼ شمېر مثالونو کې يې دا خبره په ډاګه کړې چې له مسلمان څخه يوازې خپل ځان مراد نه دی، يوازې خپله کورنۍ ترې مراد نه ده، بلکې هر ځای چې مسلمان وي، ټول سره ورونه دي، خو دا هم د مسلمانانو د بېلولو لپاره يوه دسيسه جوړه شوې، چې ټول مسلمانان په وړو وړو جغرافيو وېشل شوي دي او هر يو يې له بل څخه بېغمه کړی دی. نن سبا ولې مسلمانان کړېدلي دي، ولې دومره له کمزورۍ سره مخ دي؟

ولې پر مسلمانانو د ظلم او وحشت سيوری غوړېدلی دی؟

ولې مسلمانان په داسې تور تم کې شپې او ورځې تېروي، او ولې له داسې ذلت سره مخامخ دي؟ له داسې حالت څخه د وتلو لاره چاره يې څه ده؟

له داسې حالت څخه د وتلو يوازېنۍ لاره دا ده، چې د الله رب العزت پيروي وکړو، د ژوند په هره برخه کې پر الله رب العزت ټينګه او مضبوطه عقيده ولرو، يوازې د الله جل جلاله عبادت او پيروي وکړو، د مرګ نېټه يې راته ټاکلې ده، چې نه مخکې کيږي، او نه وروسته کيږي، خو مور په دې عقيدې کې کمزوري يو، له مرګه وېريږو، بايد دا عقيده ټينګه کړو.

ب: وَرَسُولَهُ؛ کله چې مو د الله رب العزت عبادت وکړ، له هغه وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم پيروي وکړئ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت خپل کړئ، د ژوند په هر حالت کې د هغه له تګلارې او کړنلارو څخه ګټه پورته کړئ، د نبوي لارښوونو په رڼا کې ژوند وکړئ، له مسلمان سره د هغه صلى الله عليه وسلم په څېر چلند وکړئ، له کافر سره هم د هغه صلى الله عليه وسلم د چلند په څېر چلند وکړئ، کله چې مو داسې وکړل، نو هرومرو به بريالي کيږئ.

او که د الله او د هغه د رسول پیروي ونه شي، نو سړی له ناکامۍ سره مخامخ کیږي، او ناکامۍ ته یې ورغورځوي.

دوې لنډې بېلګې یې درته وړاندې کوو.

لومړۍ بېلګه: احد دویمه غزا ده، چې له بدر څخه وروسته ترسره شوه، هغه مهال چې مشرکینو د بدر په غزا کې ماتې وخوړله، نو دویمې (احد) غزا ته په دې نیت راغلل، چې له مسلمانانو څخه به خپل غچ او انتقام اخلو، د صحابه وو یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لښکر شمېر زرو کسانو ته رسېده، چې په دوی کې یې د غشي ویشتونکو پنځوس کسیزه ډله په یوې غونډې له دې امله ودروله، که چېرې کفار د شا لخوا پر موږ حمله کوي، تاسې به یې مخه نیسئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم دې ډلې ته ویلي و، چې تاسې به په هر حالت کې همدلته په خپلو ځایونو یاست، که موږ د بریالیتوب پړاو ته رسېږو، او که له ناکامۍ سره مخ کیږو، تاسې به خپل ځایونه نه پرېږدئ، چې دا دوی ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم امر او وینا وه.

جګړه پیل شوه، او مسلمانان پر کفارو غالبه وه، تر دې چې ماته یې ورکړه، وسلې او مهمات ترې پاته شوه، دوی په تېښتې له دې ځایه پښې سپکې کړې، چې تر همدې مهاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي وه، کله چې هغه پنځوس کسیزې ډلې مسلمانان ولیدل، چې بریالي شوه، او کفارو ته یې ماته ورکړه، او یوازې د غنیمتونو په راټولولو بوخت دي، د دې پنځوس کسیزې ډلې ترمنځ د رایې اختلاف شو، ځینو وویل: مسلمانان خو اوس بریالي دي، هغه دی د غنیمت په راټولولو بوخت دي، راځئ، چې موږ هم ورښکته شو، او په کفارو پسې به مندې ووهو

خو ځینو بیا وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته سپارښتنه کړې، چې هر حالت کې به تاسې همدلته یاست، او زموږ مرستې ته به نه راځئ، خپل سنګر به نه پرېږدئ، نو موږ نه ځو.

څه صحابه کرام د خپلې اجتهادي پرېکړې له مخې راغلل، او راښکته شوه، خالد بن ولید چې هغه مهال لا مسلمان شوی نه و، دغه غونډې یې ولیدله، چې خالي ده، له همدې لارې څخه په استفاده پر مسلمانانو یې حمله وکړه، د مسلمانانو هغه ګټلی او غالب میدان په ماتې او مغلوبیت سره بدل شو[1]. لامل یې څه و؟ الله جل جلاله یې په هکله فرمایي: {وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُمْ بِإِذْنِهِ حَتَّى إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا أَرَاكُمْ مَا تُحِبُّونَ مِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الْآخِرَةَ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ} [آل عمران152]. ژباړه: او بې شکه الله خو خپله وعده درسره رښتینې کړه، کله چې د هغوی په وژلو ځپلو لګیا وی، تر هغو چې بې زړه شوئ او په (خپل) کار کې مو سره شخړه شوه او سرغړاوی مو وکړ، له هغه وروسته چې تاسو ته یې هغه د خوښې ګران شیان در وښودل په تاسو کې خو هم چا دنیا غوښته او چا آخرت، بیا یې نو ترې راوګرځولئ چې ومو ازموېي او یقینا ستاسو له ګناه تېر شو او الله خو پر مؤمنانو د لوریني څښتن دی. د الله رب العزت ژمنه دا ده، چې زه به تاسې بریالیتوب ته رسوم، "إِذْ تَحُسُّونَهُمْ بِإِذْنِهِ"، هغه مهال چې تاسې د الله رب العزت په امر او اجازې سره کفار وژل، "حَتَّى إِذَا فَشِلْتُمْ"، تر دې چې تاسې په خپلې رایه کې ناکامه شوی، یعنې په یوه حکم کې پاته نه شوی، بلکې په تاسې کې دوې رایې پیدا شوې.

ادامه لري...

د ملي دفاع وزارت له سر مفتش مفتي لطيف الله حکيمي صاحب سره ځانګړې مرکه

د ملي دفاع وزارت د اشتهاراتو او تبليغاتو د انسجام اداري د ياد وزارت له سرمفتش مفتي لطيف الله حکيمي صاحب حفظه الله سره ځانګړې مرکه کړې ده او د اردو مهالنۍ ټولو لوستونکو ته يې وړاندې کوي.

1ـ محترم مفتي صاحب په پيل کې د دفاع مهالنۍ لوستونکو ته ځان ورمعرفي کړئ؟

بسم الله الرحمن الرحيم. نحمده و نصلي على رسوله الكريم. أما بعد!

نوم مې لطيف الله حکيمي دی د زابل ولايت سره تړاو لرم، عمر مې تقريباً پنځوس کاله دی، ديني زده کړې مې تر لويې دورې او د فقه او قضاء تر تخصص پورې کړې دي.

2ـ محترم مفتي صاحب د تاريخ په اړدو کې مو د اسلامي امارت په ليکو کې مو کومې دندې ترسره کړې دي؟

د اسلامي امارت په لومړنۍ دوره کې مې په بېلابېلو برخو کې رسمي دندې ترسره کړې دي، د هرات ولايت څارنوال، په وروستيو کې د هرات ولايت د اطلاعات او فرهنګ د دنده وم چې په ګران ټاټوبي صليبي يرغل وشو، نظام سقوط شو او د اشغال پر ضد سپېڅلې جهادي مبارزه پيل شوه چې زه د دې مبارزې فعال غړی پاتې شوی او په بېلابېلو برخو کې مې رسمي دندې ترسره کړې دي.

له 2001 څخه تر 2005 کاله پورې د اسلامي امارت رسمي ویاند وم، له هغه وروسته ونيول شوم، دوه کاله بنديي وم او په 2007 کال کې د يو ايټالوي تبعه په بدل کې ازاد شوم، کله چې د اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله له هداياتو سره سم سياسي کميسون جوړ شو نو زه تر يو څه وخته د هغه پنځه کسيز سياسي کميسون غړی وم، د دې ترڅنګ د اسيرانو په نامه مورډ يو کميسون ايجاد کړی و د همدې کميسون د مرستيال په صفت ټاکلی وم، بيا د ملکي تلفاتو د مخنيوي سمع شکاياتو کميسون د مرستيال په توګه او د اسلامي امارت له بيا ځلې حاکميت څخه د مخه د نظامي کميسون اداري د عمومي رئيس په توګه او همالە د نظامي شورا منشي هم وم تر څو چې بيا ځلې اسلامي امارت حاکم شو.

3ـ محترم مفتي صاحب له اوسنۍ دندې څخه مو څومره خوښ ياست؟

زه د اوس لپاره د ملي دفاع وزارت په چوکاټ کې د سرمفتش په توګه په دنده بوخت يم، ملي دفاع وزارت د دې نظام له مهمو ادارو څخه يوه اداره ده، د دې سرمفتشيت چې څومره حق دی نو شونې ده چې مورډ به په پوره ډول د حق اداء کولو توان نه لرو خو تل مو هڅه کړې ده چې دا مسؤليت په سمه توګه ترسره کړو.

تر ټولو مهمه دا ده چې هر مسؤل له خپل مسؤليت څخه قانع او خوښ اوسي، بايد باور پرې ولري او پرې حاکم وي، کله چې څوک په خپلې دندې خوښ وي، باور پرې ولري، قانع وي، خوښ وي او ځان په دنده لوی ونه ګڼي نو کولی شي چې خپل اس ترمنزله ورسوي او په دنده کې غفلت ترې ونه شي.

ماته د دې مسؤليت ترڅنګ د صفوفو د تصفيې کميسون مشري هم راپه غاړه شوې وه، ترڅو چې ملکي او نظامي هوايي ډګرونه جلا

تر هغه وخته د هوايي ډګرونو د تنظيم کميسون مشري هم ماته سپارل شوې وه خو ما تل هڅه کړې چې پر دنده ځان لوی ونه بولم او په صداقت، مينه او اخلاص خپل مسؤليت ترسره کړم. د ملي دفاع وزارت په چوکاټ کې د سرمفتشيت اداره ډېره پراخ لمنې ده، په ټولو قطعاتو او جزوتامونو کې عمومي مديريتونه لري او ډېر درانه مسؤليتونه يې په لايحه کې دي ځکه نو زه له دې دندې خوښ يم او په سمه توګه يې د اداء کولو هڅه کوم.

4ـ محترم مفتي صاحب آيا په کاري برخه کې ستونزې لرئ؟

په کاري برخه کې هرومرو ځينې مهال ستونزې وي،خو داسې ستونزې نشته چې د کارځنډ شوې وي او يا يې له کاره ناخوښ کړي يو، تر اوسه پورې چې کومې ستونزې مخې ته راغلې دي هغه ټولې حل شوې دي او په حل کولو يې توانېدلی يم.

5ـ محترم مفتي صاحب د يو نظام او حکومت د ننه د شفافيت را منځ ته کول او د فساد مخنوی څومره ارزښت لري؟

په کوم حکومت کې چې حساب او شفافيت نه وي هغه نظام مطلق دوام کيږي او نظام کمزوری کوي، له همدې امله د تفتيش اداره ډېر ارزښت هم لري.

سرمفتشيت له ټولو ادارو سره په کاري برخو کې مرسته کوي، شپېته سلنه مشوري ورکوي، د ستونزو په رفع کې همکاري کوي او د شفافيت او حساب ورکولو لپاره اساني رامنځ ته کوي، همداراز مشرتابه ته په ځينو داسې برخو کې لازمې مشوري ورکوي چې د ډېرو بوختياوو له امله د هغوی ورته پام ونه شي. همدا شفافيت دی چې اداري په پښو دروي، د فساد مخه نيسي او اداري اصلاحات رامنځ ته کوي. ځينې مهال خلک داسې فکر کوي چې د تفتيش پر مهال مفتش زما عيبونه لټوي، خو داسې نه ده، بلکې مفتش په کار کې عيبونه را سپړي تر څو کارونه په اصولي توګه د نظام له پاليسي سره سم ترسره شي، نه داسې چې وظيفوي تداخل وي او ګډوډي رامنځ ته کړي او دا په حقيقت کې له دوی سره مرسته وي.

شفافيت په ټولو ادارو کې مهم دی، د شفافيت کلمه داسې عامه ده چې د ارزښت له امله يې ټولې اداري تر اغېز لاندې دي، په کوم ډول چې اړتيا وي بايد سرمفتشيت په هماغه تر څو له مسؤلينو سره يې مرسته وشي او اصلاحات رامنځ ته شي.

6ـ محترم مفتي صاحب د اسلام له لید لوري د شفافيت او حساب ورکولو ارزښت په لنډ ډول بيان کړئ؟

زمور د ټولو لپاره د حکومت په چوکاټ د هرې برخې نبه بېلګه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ژوند دی چې هغه أسوة حسنة ده او له هغه وروسته بيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم اصحاب دي چې د رسول الله (صلى) په لاس روزل شوي او د هغوی د پيروي لارښوونه يې کړې ده، فرمايي: اقتدوا بالذين من بعدي من أصحابي أبي بكر وعمر واهتدوا بهدي عمار و تمسكو بعهد ابن مسعود. الحديث.

له ما وروسته په هغو پسې اقتدا وکړئ او اشاره يې سيدنا صديق اکبر او فاروق(رض) ته وکړه. خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم د شفافې اداري بنسټونه کښېودل خو کله چې عمر فاروق رضي الله عنه د مسلمانانو امير شو نو د شفافيت او حساب ورکولو په برخه کې يې ډېرې بنسټيزې بېلګې مور ته پرېښودلې، داسې بېلګې خو ډېرې دي البته د نمونې په ډول يې يوه تاسې ته يادوم

یو ځل عمر رضي الله عنه په لار روان و چې په دې مهال يې مخې ته د أوښانو يوه ګله راغله، د هغې ګلې ځينې اوښان ډنګړ او ځينې يې بيا ډېر څرب و، دا چې هغه مهال د ټولو خلکو اوښان د بيت المال اړوند يو زرغون څرځای کې څرېدل او د ټولو خلکو اوښان په يوځای مړېدل نو له ده سره پوښتنه پيدا شوه چې دا خو د ټولو ګډ حق دی او د ټولو اوښان يوځای څريږي نو دا ولې ځينې پکې څرب او ځينې نور بيا ډنګر دي؟ همدا پوښتنه يې له خلکو وکړه چې دا ځينې اوښان ولې له نورو څخه څرب دي؟

يو چا ورته وويل دا خو ستا د زوی اوښان دي، عمر فاروق رضي الله عنه په منډه خپل زوی را وغوښت او ترې وې پوښتل چې دا ستا اوښان دي؟ هغه ووېل: هو دا زما دي، نو عمر رض ورته وويل دا ولې له دې نورو څرب دي؟ ده ورته ويل: پلاره د نورو اوښانو سره څريږي نور نه راته معلوميږي چې لامل يې څه دی؟

عمر فاروق رضي الله عنه ورته وفرمايل: دا ځکه څرب دي چې ته د اميرالمؤمنين زوی يې او خلک چې ستا اوښان وينې نو له خپلو اوښانو څخه تاته په څرځای کې ډېر حق درکوي له دې املې چې دا د اميرالمؤمنين د زوی اوښان دي. نو زوی يې ورته ويل: اميرالمؤمنين! ته امر راته وکړه زه اوس څه وکړم؟ په دې کې خو زما ګناه نشته.

عمر فاروق رض ورته وفرمايل: دا ټول اوښان دې خرڅ کړه، په څو روپيو چې تا اخستي دي هغه به ته واخلې او پاتې زياتې روپۍ بيت المال ته ورکړه ځکه چې ستا اوښانو د بيت المال زياته برخه خوړلې او دا د ټولو حق دی.

سبحان الله که مور د هغو اصحابو په لار ولاړ شو او د حساب ورکولو لپاره تر هر چا ځان دمخه کړو نو بيا به دا نظام بقاء هم پيدا کوي او له فساد څخه به هم خوندي وي.

د اسلامي نظام له بنسټونو څخه لومړنی شفافيت دی چې د نظام د بقاء لامل کيږي او په دې برخه کې د اصحابو ژوند د لارې تر ټولو غوره مثال دی.

7ـ د ملي دفاع وزارت سرمفتشيت د شفافيت او حساب ورکولو په کومو برخو کې کار کړی؟

د مفتشيت دنده دا ده چې فساد نه وي، د يو او بل په کارونو کې مداخله نه وي او اصلاحاتو ته کار وشي، ځينې مهال يو څوک د بل په کارونو کې لاسوهنه کوي او وايي مرسته ورسره کوم خو هغه مرسته نه وي بلکې لاسوهنه وي، نو مرسته غوره عمل دی خو لاسوهنه تخريب او د سرمفتشيت دنده دا ده چې يو له بل سره د مرستې زمينه برابرې کړي او د تخريب او لاسوهنې مخه ونيسي.

زمور د سرمفتشيت د دندې او مسؤليت خلاصه دا ده چې د اسلامي ملي اردو له حيثيت څخه دفاع وکړي، دا دفاع هغه مهال شونې ده چې په اداره کې مداخلې نه وي، شفافيت او حسابدهي وي، له خپل کار څخه خوښ وي او د همدې لپاره خواري کوي. مور د همدې موخو لپاره روزنيز پروګرامونه جوړوو او خپل خلک دې ته جوګه کوو چې د اردو له حيثيت څخه دفاع وکړی شي او په اداره کې د فساد مخنيوی وکړي، اصلاحات رامنځ ته کړي او شفافيت او حسابدهي ته کار وکړي.

8ـ د اسلامي ملي اردو په قطعاتو او جزوتامونو کې د شفافيت او حساب ورکولو او د احضارات د لوړولو په برخه کې مو کوم کارونه سرته رسولي دي؟

مور د اداري، اخلاقي او مالي فساد د مخنيوي لپاره کار کوو، په اسلامي

ملي اردو کې د هرې برخې د اصلاح لپاره کار کوي خو په اخلاقي برخه کې فساد له صفر کچې هم ټیټ دی، اداري او مالي برخه کې ځینې مهال وړې ستونزې وي خو د مخنیوي لپاره یې مور ډېر جدي او ګړندي کارونه کوو او په دې برخه کې ډېر موفق هم یو، ځکه چې مشرتابه دې موخو ته ډېر ژمن دي.

9ـ د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته مو په ملي دفاع وزارت کې کومې کړنې ترسره کړې دي؟

مور د اردو د تصفیې په برخه کې کار وکړ، د نظامي اداراتو ترمنځ همغږي ټینګول، د خپلې اداري د تنظیم او پرمختګ لپاره مو هم مؤثر ګامونه اخستي دي. د تحول په پیل کې د مجاهدینو په نامه خلک د ملي اسلامي اردو لیکو ته راغلي وو او هغوی به په لارو کې خلک زورول، له دې سره اولس خپل اطمنان له لاسه ورکړی و او اندېښنې ورسره وې نو مور

د تفتیش او تصفیې په لړ کې هغه اشخاص معلوم کړل او له دې پاک صف څخه مو لرې کړل چې له امله یې د اولس او نظام ترمنځ پیوستون لا زیات ټینګ شو، اندېښنې له منځه ولاړې او پر نظام باندې د ملت باور لا

10ـ : د فساد د مخنیوي په برخه کې کومې لاسته راوړنې لرئ؟

د ملي دفاع وزارت په چوکاټ کې د داسې فساد بېلګې نه دي موندل شوي چې د فساد په برخه کې حساب پرې وشي او په دې برخه کې باید یادونه وکړم چې د عقیدتي او فرهنګي ریاست او د امربالمعروف مسؤلینو هم د خلکو د اصلاح لپاره خواري کړې ده او د فساد د مخنیوي په برخه کې د دوی هلو ځلو هم ډېره نتیجه ورکړې ده.

بله دا چې ټولو مجاهدینو ته د بانکي اکاونټونو له لارې معاشونه ورکول کیږي او دې کار هم د فساد مخه نیولې ده، همداراز د مجاهدینو اعاشه او بدل اعاشه پر وخت او نښه ډول توزیع کیږي چې په دې کې د مالي فساد احتمال هم نه وي.

11ـ د اسلامي ملي اردو مجاهدینو او اړوندانو ته څه پیغام لرې؟

زه یو پیغام اولس ته ورکوم چې تاسې د یو مجاهد یا د نظام د یو فرد له لورې کومې ستونزې سره مخ کیږئ نو هغه د نظام مسؤلینو ته مه منسوبوئ بلکې د شخص خپل عمل یې بولئ او له مسؤلینو د خپل حق غوښتنه کوئ نو هیڅکله به ستاسې حق ونه خوړل شي. ترڅنګ یې اولس او ټولو مجاهدینو ته وایم چې له نظام او هیواد سره وفاداري زما لپاره یو ارزښت دی او دا باید تاسې ته هم ارزښت ولري، که تاسې دا ارزښت وساتئ نو هیڅکله به د تخریب نښکار نه شئ.

دویم دا چې مور ټول باید صبر او تحمل ولرو، که د اسلامي نظام پر ضد هر څوک هر ډول خبره کوي نو دا اولس او نورو خلکو ته جواز نه لري، ځینې مسئلې ملي وي او نظام به یې په لوړه کچه د حل لپاره کار کوي، دا چې د نښکته پایې خلک یې حل کولی نه شي نو باید پروپاګند هم تري جوړ نه کړي، هو که څوک له نظام سره خواخوږي لري نو بیا دې نېکه مشوره ورکړي او د اصلاح دعاګانې دې ورته وکړي.

تمدن اسلامی

بخش دوم

در میدان فلکیات

دانشمندان واقع‌بین غربی اذعان دارند که علما و دانشمندان مسلمان در علم نجوم ابداعات و آثار ارزشمندی از خود برجای نهادند. از مواردی که تاریخ آن را با نهایت اعجاب و شگفتی بیان می‌کند این است که مسلمانان رصدخانه‌های علمی و ستاره‌شناسی مهمی در شهرهای طلیطله، قرطبه، بغداد، قاهره، دمشق، سمرقند و فارس داشته‌اند. مأمون برخی از حکما و دانشمندان آن عصر را جمع کرد و از آن‌ها خواست تا نقشه‌ای به نام او تهیه کنند. این نقشه شامل تمام جهان، افلاک ستارگان، خشکی‌ها دریاها آبادانی‌ها و کویرها، مساکن اقوام و امم مختلف، جاها و شهرهای دیگر بود و از نقشه‌یی که جغرافیای بطلمیوس و مارینوس ارائه داده بودند، بسیار جامع‌تر بوده است.

اعراب حجم کره زمین را بدست آوردند و برای اولین بار خسوف و سوف را توضیح دادند و برای حرکت خورشید و ماه جدول مدارهای کاملی تهیه کردند، طول سال را محاسبه نمودند، اعتدالین را شناختند. دانشمندان مسلمان به کار ساخت و اختراع ابزارهای نجومی پرداختند. برای سنجش وقت با استفاده از ساعت‌های مختلف توانستند ساعت میکانیکی رقاصک‌دار به کار بردند. عبد الله عنان در کتاب «دولت الاسلام» می‌نویسد: «حکیم اندلس، عباس بن فرناس در خانه‌اش آزمایشگاهی داشت و در آن وسیله‌یی شبیه آسمان ساخته بود که بیننده با مشاهدهٔ آن ستارگان، کهکشان‌ها، ابرها، رعد و برق و درخشندگی آن به شگفت می‌آمد.

درمیدان هندسه

علمای اسلامی در عرصهٔ هندسه و معماری و بخصوص در زمینه نقوش و تزیینات تلاش گسترده‌ای نمودند و تاثیرات عمیقی از خود بر جانهادند. وجود مساجد مسلمین قصرهای باستانی، مدارس و موسسات آن‌ها بهترین شاهد این مدعا است. اصول و مبانی معماری اندلسی که برخی از آثار آن تا امروز باقی مانده است هر کدام در اوج قلهٔ معماری هندسی قرار دارد. برج معروف «الزهراء» که هیچ اثری از آن نمانده بود در جریان کاوش‌ها و حفاری‌های باستان‌شناسی اخیرا از زیر خاک سر برآورده و ترمیم شده است از جمله این آثار است. اعراب به مثلثات سطح و کره روی آوردند وروش های جدیدی در اثبات مسائل آن ابداع کردند، و مسائل آن را با مثلثات کروی قائم الزاویه حل کردند، مقاطع‌ها مماسات وسایر اموری را که دردمقایسه زوایا مثلثات کاربرد دارد، استعمال کردند و جداولی را ابداع نمودند که گفته می‌شود همین جدول‌ها راه کشف لگاریتم را هموار کرد. اعراب روش محاسبه نصف النهار ها و مدارها را ابداع نمودند و این کار قوانین ساخت تقویم را آسان نمود.

در میدان ریاضیات

از امور مسلم است که دانشمندان مسلمان در علم ریاضیات خوب درخشیدند و اصول و مبانی این علم را برای جهانیان بنانهادن. مسلمانان بودند که کسرهای اعشاری را در حساب ابداع کردند و کلمات رمز و اختصار را در ریاضیات به کار بردند.

حل معادلات «مکعب درجه سه» با استفاده از مقاطع مخروطی، از بزرگترین دستاوردهای اعراب است. سیار علمای معاصر معتقدند که اعراب منشا کشف «لگاریتم» هستند.

از بزرگان و نوابغ ریاضی می‌توان از حسن بن هیثم، ابن سینا، خوارزمی و ابن البناء نام برد.

کتاب خوارزمی در ریاضیات به زبان‌های اروپائی ترجمه شده و برای مدت زمانی طولانی تنها منبع «الجبر» به شمار می‌رفت. در سال‌های اخیر نسخه‌ای از آن به زبان عربی به دست آمد که در آکسفورد نگهداری می‌شود.

در میدان فزیک

مسلمانان در بسیاری از مسائل فیزیکی بحث و تحقیق کردند اما بسیاری از تحقیقات آن‌ها به زبان‌های لاتینی و یونانی ترجمه شده‌اند و مترجمین آنها از نوشتن بسیار از اسامی دانشمندان عرب فرار نموده‌اند و اسامی جدید اروپائی بر آن‌ها نهاده‌اند. ما بیش از آنچه که امروز هستیم، از اندیشه‌ها و نظریات علمای مسلمان بی خبر هستیم. معروف ترین فرد که در این میدان تخصص داشت و پرچم علم فزیک را در قرن هفدهم میلادی برافراشت ابن هیثم بود.

مشهور ترین کتاب ابن هیثم در این فن، کتاب المناظر است که کتابی علمی و مبتنی بر مشاهده، تجربه و استنتاج است. تنها کتابی بود که محققین این رشته به آن مراجعه می‌کردند.

این کتاب در اصل هفت جلد است در مورد علم مناظر، تشریح ساختمان چشم و رسم و نامگذاری بخش های آن شاید اولین کسی بود که قسمت های مختلف چشم را به عربی نامگذاری کرده است.

از نظر تاریخی به ثبوت رسیده است که مسلمانان نخستین کسانی بودند که اهمیت جهت یابی را دانستند و اولین کسانی بودند که برای یافتن جهات از سوزن مغناطیسی استفاده کردند. مسلمین در علم فیزیک نظریات و آراء بسیاری ابراز کردند واز جمله نظریه جاذبه‌ای که نیوتن بیان داشته در واقع ریشه اسلامی دارد.

در میدان طب

علمای مسلمان در عرصهٔ پزشکی و هم خدمات شایان و تأثیرات بسیار داشته‌اند. آنها داروها و مسائل خاص ابداع کردن و روش‌های درمانی ویژه‌یی به کار بردند که امروزه هم از آن استفاده می‌شود. ابوالقاسم خلف بن عباس قرطبی- متوفی 404ه.ق.- معروف به زهراوی دایرةالمعارف طبی ارزشمند دارد به نام «التصریف لمن عجز عنه تالیف» که در قرن دهم هجری - شانزدهم میلادی- به برخی زبان‌های لاتینی ترجمه شده است. در این کتاب که در مورد جراحی است، مولف نظریات جدیدی بیان کرده و بر آن‌ها تاکید نموده است. روش‌های که شامل شیوهٔ خردکردن سنگریزه‌های مثانه، تشریح و کالبدشکافی جسدهای مرده و افراد زنده، عمل‌های به روی چشم و دندان و عمل مربوط به زایمان می‌شود.

او همچنین نخ‌های خاصی از امعای بعضی حیوانات تهیه کرده بود که در جراحی و عمل بخیه زدن به کار می برد. ابن سینا - متوفای 980 ه.ق.- از درخشان‌ترین چهره‌های عربی است. در میان شخصیت‌های علمی اسلامی در تمام زمینه‌های علمی چون نگین گران‌بها درخشید. در زمینه طب او نخستین کسی است که التهاب غشای دور سر و علل و عوامل یرقان را به روشنی و با دلیل توضیح داد و میان فلجی‌های صورت ناشی از عوامل داخلی یا خارجی باشد، تفاوت قائل شد و دردهای کمر ناشی از اعضا یا عوامل عصبی را از هم جدا کرد. سکته مغزی ناشی از فراوانی خون و عارضهٔ سنگ مثانه را به خوبی توضیح داد و در معالجه بیماری‌ها به عوامل روحی و معنوی توجه ویژه نمود.

شفاخانه های اسلامی

مسلمانان در دوره‌های مختلف اسلامی و در طول تاریخ توجه خاص به مستشفیات داشتند و در جهان اسلام بیمارستان‌های تخصصی برای معالجه انواع مریضی‌ها به وجود آمد و بسیاری مواقع آن‌ها را به همان نام

«شفاخانه های»می‌شناختند که ما برخی از معروف ترین نوع این بیمارستان‌ها قرار ذیل است:

1. شفاخانه جذامی؛
2. دارالمجانین؛
3. شفاخانه های نظامی؛
4. شفاخانه های زندان؛
5. شفاخانه های دارالایتام؛
6. شفاخانه های سیار؛
7. دستگاه‌های امدادی؛
8. شفاخانه های عمومی.

در کنار تمام این شفاخانه ها داروخانه هایی هم وجود داشت که دارو، غذا و لباس رایگان به بیماران داده می‌شد. بدون توجه به رنگ، جنس، نژاد و دین. بسیاری از مواقع گردانندگان این بیمارستان‌ها به بیماران فقیری که مداوا می‌شد مبلغی پول می‌داد تا پس از شفایافتن و خروج از بیمارستان تا مدتی روزیِ خود را داشته باشند.

همچنین شفاخانه‌ها مدارس طبی بزرگ هم داشتند که دانشجویان در آنجا به تحصیل کتب طبی می‌پرداختند و آن‌ها را تمرین می‌کردند و بیماران را روزانه معاینه می‌کردند.

هزینهٔ تحصیل آن‌ها نیز بر عهدهٔ شفاخانه بود؛ چون آموختن علم در تمام مراحل درسی در دوره‌های اسلامی رایگان بوده است.

این مهم ترین جنبه‌های تمدنی بود که عالم اسلام در میادین مختلف فکری علمی و ادبی به آن دست یافته بودند و دیدند که عموم بشریت به خصوص اروپا از این تمدن معارف، در خلال قرون و گذر تاریخ استفاده آوردند و تمدن مادی جدید در غرب به شکوفائی نرسید مگر به واسطه آنچه که از تمدنی درخشان و علوم زنده و پویا معارف نوین هستی شناسی اسلامی از طریق صقلیه، آندلس و جنگهای صلیبی به‌دست آنان رسیده بود.

در واقع دولت اسلامی در عصر طلایی تمدن خویش استاد و رهنما برای جهانیان سرگشته و انسانیت راه گم کرده به شمار می‌رفت.

گوستاولوبون از قول استاد لیبری خود می‌گوید: «اگر اعراب بر صحنهٔ تاریخ ظاهر نمی‌شدند، بیداری اروپای جدید نیز قطعاً چندین قرن به تاخیر می‌افتاد.» و این بدین خاطر است که اسلام دین علم، تمدن، شریعت و قانون گذاری و پیشرفت و بیداری است. با وجود این جای تاسف است که بسیاری از جوانان مسلمان بی‌توجه به این امور فریب ظواهر پر زرق و برق غرب و اروپا را خوردن و چون آن‌ها را در مظاهر مادی زندگی پیشرفته می‌بینند، مجذوب آن‌ها شده و علم وت مدن و فرهنگ را فقط در آنجا می‌بینند، غافل از اینکه اروپا و غرب اگر علم و تمدن و پیشرفتی هم دارد بدون شک وام دار آئین اسلام و مدیون دانشمندان و علما اسلامی هستند که الفبای علم و تمدن را به آنان آموختند و بعد با کمال وقاحت و به دور از اخلاق علمی نام دانشمندان اسلامی و اساتید خود را حذف کردند و خود طلایه‌دار و پرچمدار علم و اندیشه شدند که این خود جای تامل بسیار دارد. می‌طلبد که جوانان و اندیشمندان اسلامی، عظمت و بزرگی از دست رفته و فراموش شده را از نو احیا کنند و به جهانیان بفهمانند که اسلام برای همیشه و هر زمان دین و علم و اندیشه فرهنگ و تمدن اخلاق و اجتماع خواهد ماند.

منابع:

1. دستاوردهای تمدن اسلامی(ناصح علوان /ص 11)
2. تمدن اسلامی آندلس ص 41- 42
3. الانسان العربی والحضارة انور رفاعی /ص 448- 449
4. انسان عربی و تمدن انور الرفاعی /ص 497
5. آثار الاندلسیه/ عبد الله عنان
6. افلاک نمای امروزی
7. دولت اسلامی/ عبد الله عنان
8. الاسلام والحضارة العربیه. محمد کرد علی/ ص 223- 226
9. علوم نزد اعراب از قدری طوفان













ملت مجاهدپرور افغان حق دارد به نیروهای اردوی اسلامی ملی اعتماد کنند، زیرا صفوف این نیروها را فرزندان شجاع و دلیر شان تشکیل میدهد.



افغان مجاهد ولس دا حق لري چه داسلامي ملي اردو په ځواکونو باندې اعتماد وکړي، له دې املـه چې د دې ځواکونو لیکې یې د دې ولس له باتورو بچیانو څخه جوړ دي.

د ملي اردو په ليکو کې د افغانستان ولس بچیان، د شهیدانو د آرمانونو سره په هوډ، زمریانو غوندې خدمت ته چمتو دي، دغه زمریان داشغال په وړاندې دجهاد دشهیدانو ځلانده خاطر پې دي.



فرزندان صدیق مردم افغانستان در صفوف اردوی اسلامی ملی، با تعهد در برابر آرمان های والای شهدا، دلیرانه آمادۀ خدمت گذاری اند؛ این دلیرمردان درخشنده ترین خاطره شهدای گلگون کفن دوران جهاد در برابر اشغال هستند.

اردوی اسلامی ملی یک نام نه، بلکه مدرسه ای است سرشار از عشق و فداکاری؛ که بهترین انسان های ایثارگر را به جامعه تقدیم می کند. انسان های که با الهام از دورس عشق و فداکاری؛ برای دفاع و حراست از ارزش های اسلامی و ملی، مهارت های خاص نظامی را می آموزند.







ملت مجاهدپرور افغان حق دارد به نیروهای اردوی اسلامی ملی اعتماد کنند، زیرا صفوف این نیروها را فرزندان شجاع و دلیر شان تشکیل میدهد.



افغان مجاهد ولس دا حق لري چه داسلامي ملي اردو په ځواکونو باندې اعتماد وکړي، له دې املـه چې د دې ځواکونو لیکې یې د دې ولس له باتورو بچیانو څخه جوړ دي.

د الهي نصرت فلسفه

آدم علیه السلام چې په جنت کې د الله تعالی په امر کې اجتهادي خطا وکړه او له امله يې جنت څخه دنیا ته را ووښتل شو، په همغه ورځ يې دښمن ریتل شوی شیطان هم دنیا ته راغی، الله تعالی ورته وفرمایل: قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعاً. مور ورته وویل تاسې ټول له دې ځایه ښکته شئ.

نړۍ ته له آدم علیه السلام سره د شیطان راتللو وروسته د حق او باطل، د کفر او ایمان، د حزب الله او حزب الشیطان ترمنځ مبارزه پیل شوه.

د ځمکې پر مخ د انساني ټولنې له پرمختیا سره سم دا مبارزه هم پراخه شوه شیطان په دې وتوانېدی چې د آدم علیه السلام له اولاد څخه ځینې د ځان پیراون کړي، د حقې لارې نه يې واړوي او د ځان لپاره یو ټولی جوړ کړي چې بالآخره دواړه ټولي یو د بل په وړاندې په اوږده مبارزه کې ښکېل شي. دا مبارزه چې د لومړني انسان له راتلو سره پیل شوه او د شیطان ډلې له لومړنۍ ورځې هڅې پیل کړي چې د آدم اولاد بې لارې کړي، د الله تعالی له لارې يې واړوي، د هغه د احکامو سرغړونې ته يې وهڅوي او بالآخره يې له ځان سره د دوزخ په لور سوق کړي او دا مبارزه به تر قیامته پورې به دوام لري.

په دې اوږده مبارزه کې د الله تعالی پرېکړه دا ده چې د تل لپاره به د مادیاتو او ښکاره اسبابو له پلوه د شیطان ډله پیاوړې وي او بالقابل د ایمان لښکر به د مادیاتو له مخې کمزوری وي.

نوح علیه السلام نهه نیم سوه کاله خپل قوم ته د حق بلنه ورکړه خو د ګوتو په شمېر خلکو يې بلنه ومنله او نورو يې په وړاندې له زور او ستم څخه کار واخست، په پای کې يې الله تعالی ته دعاء وکړه چې د دوی په مقابل کې يې نصرت وکړي او هغوی چې نه اوس سم خلک و او نه په راتلونکي کې ترې د خیر تمه کېدله له شره يې د ټولو انسانانو د خلاصون غوښتنه وکړه، الله تعالی فرمایي:

وَقَالَ نُوْحٌ رَّبِّ لَاتَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِيْنَ دَيَّاراً.اِنَّکَ اِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوْا عِبَادَکَ وَلَايَلِدُوْا اِلَّافَاجِراً كَفَّارًا.

ژباړه: او نوح ع وویل: زما ربه پر ځمکه له کافرانو یو هم مه پرېږده، که يې پرېږدې ستا بندګان بې لارې کوي او یواځې کافر او فاجر به ترې پیدا کیږي.

ابراهیم علیه السلام چې د الله تعالی د حزب مشري په غاړه واخسته او دا ډله يې د حق تر منزل پورې روانه کړه نو په مقابل کې يې د نمرود په څېر جابر راپورته شو، اور ته يې واچوی، له خپل هیواد څخه يې هجرت ته مجبور کړ او له نورو ډېرو ستونزو سره يې مخامخ کړ. موسی علیه السلام له خپلو پلویانو سره په مظلوم حالت کې و او د مادیاتو له پلوه کمزوري وو، خو په مقابل کې يې فرعون یو جابر، سرکښه او د مادیاتو له پلوه پیاوړی و، فرعون د بني اسرائیلو ټول نارینه ماشومان ورته وژل، د مېرمنو بې عزتي يې کوله، قبطیان يې عزتمن وو خو د بني اسرائیلو ملاتړ لپاره هیڅوک نه وو، الله تعالی فرمایي: يُذَبِّحُوْنَ أَبْنَائَكُمْ وَ يَسْتَحْيُوْنَ نِسَائَكُمْ.

ستاسې زامن وژني او مېرمني مو ژوندۍ پرېږدي (چې د دوی خدمت وکړي).

د حق او باطل ترمنځ د مبارزې په اوږده تاریخچه کې د حق د لارې ډېر سپېڅلي پیغمبران د کافرانو په لاس شهیدان شول، لکه زکریا علیه السلام، د ځینو د وژنې هلې ځلې وشوې خو الله تعالی په خپل نصرت نجات ورکړ

لکه ابراهیم علیه السلام، عیسی علیه السلام او زمونږ ګران پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم، د حق د لارې ډېرې لارویان مو ومونډل چې په دار او شهیدان شول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د حق بیرغ پورته کړ نو د خپل قوم او کورنۍ غړو یې دښمني پیل کړه، خپل تره یې ابولهب تر ټولو توند دښمن شو، هغوی یې د پیروانو په وړاندې له هر ډول جبر او ستم څخه کار واخست، څوک یې ګرمو ډبرو سره لمر ته واچول او ځینې یې په شکنجه کولو شهیدان کړل.

د حق او باطل دا اوږده مبارزه چې د آدم علیه السلام له راتګ سره پیل شوې وه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو په ډېر کم شمېر لښکر باندې د وخت دوه لویې امپراطورۍ یوه د رومیانو او بله د فارسیانو ږنګې کړې او اسلامي نظام یې د نړۍ پراخو او لرو سیمو ته وغځولو، د حق او باطل دا مبارزه تر ننه پورې غځېدلې ده او بیا تر قیامته پورې دوام کوي.

په دې مبارزه کې د تل لپاره د شیطان ډلې د الله تعالی ټولې ته د مادیاتو له پلوه د کمزورۍ پېغورونه هم ورکړي دي، کله یې ورته ویلي تاسې لږ یاست، ځینو به ویل کمزوري او بې وزله خلک ستاسې پیروي کوي، ځینې مهال یې ورته ویلي تاسې امکانات او مادیات نه لرئ، وسائل او اسباب نشته، په داسې څه باور لرئ چې هغه نه لیدل کیږي او نه یې ګټه درته رسیږي، نوح علیه السلام چې کښتۍ جوړوله نو قوم یې ورته ویل په دې سیمه کې اوبه نشته نو تاسې به دا کښتۍ چېرته ګرځوئ؟ په دې هکله الله(ج) په قران کریم کې فرمایلي: وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَ كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّنْ قَوْمِهِ سَخِرُوْا مِنْهُ.

ژباړه: نوح ع کښتۍ جوړوي، هر مهال چې یې د قوم سرداران پرې راځي ورپورې خاندي.

ابوجهل او د مکې مشرکانو نورو مشرانو به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اصحابو ملنډې وهلې او سپکې سپورې به یې ورته ویل.

البته د حق او باطل د جګړې په دې تاریخي مخینه کې د تل لپاره الله تعالی د حق پلویانو ته بریا ورکړې او د شیطان لښکر یې مات کړی دی.

موسی علیه السلام له قلزوم سمندر څخه واوښت خو فرعون له خپل ټول لښکر سره پکې غرق شو، نوح علیه السلام له خپلو پلویانو سره په کښتۍ کې پاتې شو او قوم یې په طوفان کې له منځه ولاړ، د بدر په غزا کې د کم شمېر ټولې بریالی شو او د شومو دسیسو جوړوونکي مشرکان یو په بل پسې ووژل شول.

خو دلته یوه پوښتنه رامنځ ته کیږي چې الله تعالی د مادیاتو له پلوه خپل ټولې ته ولې پیاوړتیا نه ورکوي او د تل لپاره یې د حزب الله په وړاندې د حزب الشیطان ډلې ته ډېر امکانات ورکړي دي؟

که په دې اوږده تاریخچه کې فکر وکړو نو الله تعالی د تل لپاره خپل لښکر ته د الهي نصرت درونه درس ورکړی دی او دې ته یې نه دي پریښې چې د الله تعالی د نصرت پر ځای په مادیاتو باور وکړي.

سره له دې چې له اسبابو استفاده کول د ایمان ضد عمل نه دی خو د بریا لپاره دغه اسباب کافي ګڼل روا نه دي، بلکې د انساني اړتیا او د الله تعالی طبعي قوانینو سره سم به اسباب په کار اچول کیږي خو بالآخره به د فتحې او بریا باور یواځې د الله تعالی په مرسته کیږي.

دا چې د الهي نصرت درس ډېر ارزښتناک دی نو له امله یې الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو لښکر ته هم د پند لپاره مؤقت شکست ورکړی دی.

کله چې اصحاب د حنین غزا ته روانېدل نو ځینو یې انګېرله چې دا ځل مونږ زیات هم یو او اسباب هم لرو نو هرومرو بریالي کیږو، دا چې د دې اصحابو په فکر کې په اسبابو باور ټینګ شو او الهي نصرت یې په دماغو کې کمزوری مقام خپل کړ نو الله تعالی په لومړنۍ وهله کې دوی ته شکست ورکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د جهاد په ډګر کې یواځې

پرېښود، نو الله تعالی ورته وویل: وَيَوْمَ حُنَيْنٍ اِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئاً وَّ ضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ.

ژباړه: او د حنین ورځ دریاده کړئ چې په خپل ډېرښت غره شوئ او بیا ټولو مادیاتو هیڅ ګټه درته ونه کړه، پراخه ځمکه دربانديې تنګه شوه او بیا په شټ مخې وتښتېدئ.

سره له دې چې د اسلام لومړنی او سپېڅلی لښکر و او د الله تعالی نازولی پیغمبر هم پکې و، په دې سربېره هم دوی له ماتې سره مخامخ کېدل د الله له لورې لوی امتحان او ستر درس و چې باید په هر ډول حالاتو کې مسلمانان د الله تعالی په نصرت باندې باور وکړي او په مادیاتو پورې دې خپل ټولې هیلې نه تړي.

کله چې امریکا په افغانستان باندې یرغل وکړ، ناټو هم ورسره مل شوه او د وخت پرمختللې اسلحې یې راوړې، په لویو پرمختللو الوتکو یې هیواد کنډواله کړه، له ټولو ولایتونو وروسته آخر کندهار هم سقوط وکړ او د طالبانو له لاسه ووت، نو په دې وروسته وخت کې امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله د بي بي سي رادیو له خبریال داود جنبش سره په مرکه کې د الهي نصرت یادونه وکړه، هغه مهال چې خبریال تري وپوښتل: ملاصاب تاسې ټول ولایتونه له لاسه ورکړل او کندهار یې هم درڅخه نیولی دی نو ایا تاسې به مبارزه کوئ؟ امیرالمؤمنین رحمه الله ورته وویل مور به جهاد ته ادامه ورکوو، هغه بیا وپوښتل چې ایا فکر کوئ چې بیا به بریالي کېږئ او یا بیا هم فکر کوئ امارت راتلی شي؟ (دا پوښتنه هغه مهال په دې موخه کېدله چې خپله خبریال او ټولې نړۍ فکر کولو طالبان له منځه تللي او بیا به هیڅکله هم داسې نظام اعاده نه شي) نو امیرالمؤمنین رحمه الله ورته وفرمایل: ((دا اوس تحول چې تاسې ولیدی زما پېشګویي په یاد لرئ ستا دې په یاد وي چې بیا به داسې تحول راسي)) خبریال ورته وویل: تاسې څنګه دا فکر کولی شئ چې تحول به راځي، د هغوی اسلحې او الوتکې پرمختللې دي او تاسې هیڅ ځواک او توان هم نه لرئ؟ امیرالمؤمنین رحمه الله ورته وفرمایل: ((دا د اسلحو کار نه دی بلکې مور په یو بل شي باور لرو چې الهي نصرت ورته وایي، مور یقین لرو چې الهي نصرت به راځي او بیا به داسې تحول راځي)).

سره له دې چې په شل کلن جهاد کې ناټو، نړیوالو او په افغانستان کې د هغوی لاسپوڅو په طالبانو پورې خندل، ټوکې به یې پرې کولې، امکانات یې نه درلودل او بې وسه وو، په زندانو کې یې بې عزتي کېدله، په سپو داړل کېدل او یا به په ظلم شهیدانېدل، خو د هغوی په زړونو کې د ایمان یو لوی قوت پروت و او د الهي نصرت یوه لویه بېلګه یې وړاندې کړه او هغه لښکرې چې د طالب په له منځه وړلو پسې راغلې وې، خبرې یې په دې نه ورسره کولې چې دوی یې د بشریت له تعریف څخه وېستلي وو، بالآخره یې خبرې ورسره وکړې، د دې مظلومو شرطونه یې ومنل، په ډېرې شرمندګۍ یې د نړۍ په وړاندې د خپلې ماتې ټرون لاسلیک کړ او له دې پاکې خاورې څخه یې خپل پلیټ قدمونه ووېستل.

1. سرچینې
2. قرآن کریم
3. بخاري
4. مسلم
5. ترمذي
6. تفسیر ابن کثیر
7. تفسیر القرطبي
8. التفسیر الوسیط

مفتي محمد بشار

اتلان

